ریښتیا ویل

ریښتینولی او صداقت د قرآنی اخلاقو له جملې څخه یو غوره خوی دی، اسلام د اخلاقی فضایلو او مکارمو د تکمیل دین دی. غوره اخلاق او سپیڅلی خویونه د مؤمن په عملی ژوند کې د ایمان د ښو او ښایسته توګه تاکل شوی دی.

د المؤمنون په سورة کې له عبادالرحمن سره اخلاق هم د ایمان د خاوند لپاره ضروری صفاتو او ښو کې شمیرل شوی دی. د قرآنی اخلاقو په جمله کې ریښتیا ویل، د دروغو څخه ډډه کول، د بې عمله علم مذمت، عمومی عفوه او ښه توکل، صبر شکر، په حق ټینګار او د خدای ﷻ له لارې سره ګډول تر ټولو لومړی ذکر شوی دی که مونږ د دغې مسالې ته لږ ځیر شو، نو دا به پخپله راته څرګنده شي چې د اسلامي عقیدې بنسټ په ایمان او ریښتیا ویلو ایښود ل شوی دی.

ریښتیا ویل اور ریښتونولی د پیغمبرانو ضروری اولازمي صفت دی او دا صفت د پیغمبرانو څخه هیڅکله هم جلا کیدلای نشی. رسول الله (ص) له پیغمبری څخه هم په امانت اور ریښتیا ویلو نړۍ نبت نړیات شهرت درلود.

ریښتیا ویل او صداقت په تولنیز ژوند کی دوګړو او تولنې دثبات، داد، باور او پتمن ژوند ضمانت کوی. ریښتیا ویل دژوند یو او مهذب بولټونو او تولنو د پرمختګ اوبقا ستر عامل دی. دکورنۍ او نورو تولنیزو چارو سمون دتولنې دوګړو په خپل منځی باور، صداقت او ریښتیا ویلو پر بنسټ ولاړ دی. الله تعالی (ج) د خپلو بندګانو د هدایت اوتولنیز ژوند دچارو د سمون لپاره، په تقوی صداقت او ریښتیا ویلو امر کړیدی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (سورة-التوبه - ۱۱۹)

ای مومنانو له خدای (ج) څخه ویره وکړی اوتل له ریښتینو خلکو

سره او سیږی).

یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا. (القرآن - الاحزاب) (۷۰)

ای مومنانو! له خدای ﷻ نه ویره وکړی، او ووائی چې ښه او مخلصه خبره.

(دا یې چې یوسړی رسول الله ﷺ ته راغی او وی ویل: یا رسول الله ﷺ! په ما کې څلور بد خویونه دی: یو داچې بد-کار یم، دویم داچې غل یم، دریم داچې شرابي یم او- څلورم داچې دروغجن هم یم.

تاسی چې ماته په دی څلورو کې څه ریوه د پریښودلو امر کوی، نوره به یې پریږدم.

رسول الله ﷺ هغه وفرمایل (دروغ ویل پریږده.)

هغه سمدلاسه د دروغ نه ویلو کلکه ژمنه وکړه او ورته لاړ. د شپې یې د تیږې په څیر شراب څښلو ته زړه وشواو د دی تر څنګ یې له یوی بدلمنی سره بدکار ته زړه وپاریده. په همدې سبب

هغه ته د رسول الله (ص) سره خپله ژمنه وربېه یاده شوه. هغه فکر وکړچې که سبا ته رسول الله (ص) لمانه د شراب څښلو او بدکاری پوښتنه وکړی نو زه به څه وایم که ریښتیا ووایم نو د شرابو او زنا، سزا به راکړل شی، او که د رواغ ووایم نو خپله ژمنه به می وفانه وی کړې. په همدې اندیښنه کې له د غود وارهو ناوړه عملونو نه تیر شو، شپه چې پخه شوه نو د غلا په نیت راپورته شو، خو بیا هم ورسره همدا پوښتنه او اندیښنه پیدا شوه چې سبا به رسول الله (ص) ته څه وایم که د رواغ وایم نو ژمنه می ماتیږی او که ریښتیا وایم نو لاس می غوڅیږی، په دی توګه هغه غلا هم پریښوده.

سهاریې رسول الله (ص) ته مخه کیسه وکړه او ورته وی ویل چې د رواغ نه ویلو او ریښتیا ویلو له املهٔ زه خدای (ج) له څلورواړو ناوړه خویونو نه وژغورلم، رسول الله (ص) د هغه په خبره ډیر خوشحاله شو.

راځئ تول داژمنه وکړو چې د خپل مؤمن به کتاب قرآن عظیم الشان - په څرګند او پریکنده حکم باندې چه فرمائی: «له خدای ﷻ څخه ویره وکړئ او تل له ریښتینو خلکو سره - اوسیږی». په ریښتینی عمل وکړو. ځکه په همدې کې د دنیا او آخرت دبری رمز نغښتی دی.

پوښتنې

۱- ریښتیا ویل څه ګټې لری؟

۲- ریښتیا ویل دچا صفت دی؟

۳- د عبادت تر څنګ غوره اخلاق هم ضروری دی- که نه؟

٤- د اسلامي عقیدې بنسټ پرځایښودل شویدی؟

۵- رسول الله ﷺ څخه بدخویه سړی ته دکوم ناوړه خوی دپریښودلو امر کړی ؤ. او نتیجه یې څه شوه.

لغاتونه:

ژمنه: وعده

قول سدید: درست او محکم قول

تولنیز: اجتماعی

مذمت: غندنه

پریکنده: قاطع

یادونه:- زده کوونکی دې پورتنی لغات په جملو کی استعمال کړی او په کتابچو کی دی ولیکی.

ناپوهی رنځ دی

ناپوهي غوندې بل نشته په جهان رنځ
اخته مه شه څوک په هسې بې درمان رنځ

چې نه خپله علاج کړای شی نه بل پوه کړي
چاره نلری بې مرګه د حیوان رنځ

کوم وطن چې ئی د علم برخه لږ وی
هم له ځمکی نه ورځی هم له آسمان رنځ

ځان ځانی لویه بلاده وهسې قام ته
خدای دی نه ورولي چاته داسی شان رنځ

په یوه زړه چې خپلوانو سره ژوند کړی
خو به ورک وی لدی ټولود آرمان رنځ

که په هڅه ارمانونو لاس ته د نه من وی
ترڅو دی پورته پر دنیا نشته بل ګران رنځ

مرسته

د تولنیز ژوند په بهیر کی دپوه بل مرستو ته ارتیایو څرګند حقیقت دی . د تولنیز ژوند ارتیاوې ، مسایل او ستونزې د ومره ډیرې دی چی هیڅوک یی هم په یوازې ځان د پوره کولو او اوارولو له توانه نشی وتلای . د مرستی خصوصیت دادی چی اغیزه یی له انفرادی کار او فکر نه څو چنده زیاته وی .

د خپلمنځی مرستو ضرورت نه یوازې د کور او کلی او یوه هیواد د وګړو ترمینځ موجود دی ، بلکه په نړیوالې سطحه د هیوادونو ترمینځ هم د ژوند په ګنوار خونوکی د مرستې اړتیا د ومره ډیر په ورځ په ورځ زیاتیږی .

اسلام د نړۍ ترټولو دیانو غوره ، شروندی او تولنیز - دین دی چې د وګړو تولنیز وحقوقو . هوسا او پټمن ژوند ته پکې زیاته پاملرنه شویده ، له همدې امله یی دیوی

مهذب بې اوسوکاله تولنې د جوړولو اوخپل منځی مرستو
لپاره دیرروښانه اصول وړاندی کړیدی .

۱ـ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَّلَا تَفَرَّقُوا ... آل عمران (۱۰۳)

ټول دخدای ﷻ په پړی (د اسلام دین) منګولې ښځې کړئ۔
(سره یوشی) متفرق اوخواره کیږی مه »

۲ـ تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ .. المائدة

په نیک کار او تقوی کی له یوه بل سره مرسته وکړی نه
په ګناه اوظلم کی .

۳ـ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ (الحجرات .... ۱۰)

په تحقیق سره مؤمنان سره ورونه دی ، نو دوه ورونو
ترمینځ موروغه جوړه اوسوله وکړی » اسلام دیوبشپړ
اوجامع دین په حیث د تولنې د سمون لپاره نهایته پاملرنه
کړیده اود خپلو هدایاتو په ترڅ کی یی د تولنیز ومرستو
غوره لارې چارې اوبنیادی اصول بیان کړیدی .

۱-د هرکار لپاره باید لومړی مقدمات برابرشی، له همدې امله اسلام لومړی د ټولنې وګړې وحدت او یووالی ته رابولی، ځکه مرسته او تعاون د نظر او عمل له وحدت نه پرته ګران کار دی.

۲-مرسته باید د خیر او تقوی لپاره وشی. د دې اصل ساحه دومره پراخه ده چې بې له شکه هغه ټولې ښیګڼې پکې راتلای شی چې د وګړو او ټولنې د هوسا اوښتمن ژوند او پرمختګ له پاره ضروري دی.

۳-له یوبل سره د مرستې احساس باید د اسلامي رواداري او عدالت غوښتنې پر عالي روحیه ولاړ وي. همدغه اصل، ټولنه او وګړي د نیکمرغۍ په لوري بیایي. د دې برعکس په هره ټولنه کې چې د اسلام اخوت، مرستې او تعاون ځای د حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم اړیکو نیولی وي، هغه ټولنه له زوال سره مخامخ ده.

جهاد ته ځم نه ایسار یږم

توپک مې اخلم روانیږم

د خدای ﷻ نصرت راسره ملدی

په پاک قرآن ځما عمل دی

مست د الله ﷻ په مینه دیږم

له ځان نه تیر له سر نه تیریږم

هر کمونست ته دا اعلان دی

د جنګ خبر په هر میدان دی

ویره مې نشته له تانکونو

د کافرانو له جازونو

پرد بنمنانو اوربل کړم

په وینو سور به بې موچل کړم

تر هغه وخت به جهاد کړم

څو له جهانه ورک فساد کړم

٤- په نیکی اوخیرکې مرسته کول باید دیوه سپیڅلی اسلامی احساس او تقوی پر بنسټ ولاړه وی، که نه نو هغه به په ریښتینی توګه داسی ګټوره مرسته نه وی کوم چی اسلام موږته پرې امر کوی، بلکه هغه به په ګناه تیری اوحق خوړلو کی مرسته وی.

٥- په ظلم، ناوړه اوناروا کارونو کی باید له هیڅ اړه مرسته ونشی که څه هم زمونږ د پیر نژدې دوستان اویا خپلوان وی. په ظلم اوناروا کی له چا سره مرسته کول، ستر ظلم اوګناه ده او ظلم د ټولنی د پرمختګ بنیاد ونه له بیخه نړوی.

اسلام د ټولنې د بیوزلو، اړو بی لاسو، بی پښو، پوندو اونورو ته د ډول ډول تدابیر غوره کړیدی چی د ټولنی د دغی طبقی ارتیاوې ترسره شی او ټولنیز حیثیت یی خوندی پاتی شی. په دی منظور اسلام د زکوة عشر اونورو صدقاتو-

دویش په هکله منظم اصول او قوانین لری .

رسول الله (ص) هغه فقیر صفته پیغمبر دی چې خپل ژوند یې
د بیوزلو او مسکینانو په ډول تیر کړ او دا دعایی وکړه چې :
(ای خدایه ! ما په مسکینی کې ژوندی ولره او د مسکینانو په
ډله کې می پورته کړه .) سربیره پردې رسول الله (ص) هم دټولنې
د هغې طبقې خلکو په تیره بیوزلو او محتاجو سره خپله خواخوږي
همدردی او مرسته عملا ثابته کړې ده .

د رسول الله (ص) دکورصفه د بیوزلو او مسکینانو د پناه ځای
او د سرسیورۍ و . (۳۰)

تمرین

۱- په اسلام کی له بیوزلو سره د مرستې لپاره کوم دول عملی تدابیر غوره کړای شو یی ؟

۲- مرسته په کومو مواردو کی غوره ده ؟

۳- د مرستی په هکله د قرآنکریم آیا تونه په یاد وزده کړی.

٤- زده کوونکی دی په تولنیز ژوندکی د مرستې د- اهمیت په برخه کې لس کرښنی مقاله ولیکی .

۵- بنسونکی دې له همدی درس نه زده کوونکو ته یو پاراګراف املا ووایی .

د علماؤ فضیلت

عالمان دي رڼا ښايي د دې دنيا
عالمان دی د تمام جهان پيشوا
که څوک لار غواړي وخداى وهم رسول ته
عالمان دي د دې لارې رهنما
کيميا ګرکه د کيميا په طلب ګرځي
همدې د عالمانو ده کيميا
په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوک کانى وي يا لوته دصحرا
جاهلان دي په مثال د مُردګانو
عالمان دي په مثال د مسيحا
چه مرده يې له فسه څوندى کيږي
عالمان دی واړه هسې اولیا

هر هغه چې رتبه نلري د علم
هغه ندې خالي نقش دې ګويا

زه «رحمان» حلقه بګوش دهر عالم يم
که اعلى دې که اوسط دې که ادنا

تمرين

۱- زده کوونکي دې پورتنۍ شعر په کتابچو کې وليکي.

۲- زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنۍ او په جملو کې استعمال کړي:

۱- پيشوا ۲- صحرا ۳- اعلى

ندبدلید ونکی اسمونه

په پښتو کښی ځینی تغییرنه منونکی اسمونه هم شته چه هغه په تولو حالا توکښی په یوصورت استعمالیږی او په پای کښی یی کوم تغییراو بدلون نه راځی دغه قسم اسمونه په ټیلو ټیلو حالاتوکښی په وروسته دول بنسودل کیږی.

۱- هغه اسم چه په پای کښی یی (الف) راغلی وی لکه: ای کاکا! دادامی راته یوښه قلم راوړه، حمید په خندا راغی.

۲- هغه نرینه اسم چه په کوچنی «ه» ختم وی، لکه: ای- نیکه! ځلمی ته خپل تره قلم وبانسه- بی زړه سړی هیڅ نشی کولای.

۳- هغه اسم چه په پای کښی یی خرګند او اوږد واوو لکه: پیشو غوښه وتښتوله، زه پښتو په ژب دود پوهیږم.

٤ ـ هغه اسم چه په زور کې والړ وی، مختوم وی، لکه:
ای نجلی ! بلی د ونو پانی هم توی کړې ، زما پر څوکه
ناسته ده.

٥ ـ هغه اسم چه په اوږده (ې) ختم وی لکه : ادې ـ
دودۍ پخه کړه ، تورپیکی له خوانبی سره ولاړه .

٦ ـ هغه نرینه اسم چه په څرګنده (ي) ختم وی لکه:
موچي بوټونه وګنډل ، زما جامې د دوبی سره دي.

٧ ـ هغه مذکر اسم چه په څرګنده «ه» ختم وی لکه:
ای پیاده ! میلمه دودۍ وخوړه ـ د میلمه واک د کور په
پرلاس کښی وی .

د جهاد په باره کښې لنډه

کومې وجـود تـوتـې ، تـوتـې شـې

زه به غليم ته چيرې سر نه تيټومه

د مجاهد دتوپک ډز شـــــو

روسانو پريښود ه ميدان کښې توپکونه

ځوانان د جنګ ډګر ته لاړل

روسان تري تيښته له تانکو سره کړينه

ځوانانو بيا سوګند پوره کړ

چې په روسانو باندې وکړل يرغلونه

د مجاهـــد ولـې راغـــلې

اوس به روسانو باندې بل سره اوړونه

راځې تـوپک ، تـوره راواخلې

روسان زمونږ وطن کښې ډير کوي ظلمونه

ځان نی سنبال کړ روانیږی
غازي تیار واده پریږدی غزالهٔ ځینه
غازیان د جنګ میدان ته لاړل۔
د پاک حضرت پدین خپل ځان قربانوینه
غازي د آس د پاسه سورشو
دکافرانونه به پرې کاندک سرونه
میدان دتورو کښی بریښناده
دروس تورتم به په جهاد له مینځ وړینه
خدایه کامیابي راستانه کړې
غازیان روان شول د جهاد سنګر ته ځینه
زموږ هیواد ترې آزادیږی
چې مجاهد توره په لاس میدان ته ځینه
چه د تکبیر نارې شی پورته
د جنګ ډګر کښی روسان لاړه ورکوینه

د کمونیزم بد شامته

افغانستان ته دې راپیښ کړه دیر غمونه

روسان به دلته تباه کیږي

په دین میّن ځلمي چه ځان قربانوینه

چه بې ګناه ماشومان وژني

په سر و روسانو به هم راشي آفتونه

ځان دا اسلام په لار شهید کړه

چه جنازه دې د آسمان ملایکې وړینه

خاونده سل ځله ژوندۍ راکړه

چه دا اسلام په مینه سل ځله مړ شمه

شهیده زیري مې دربانديې

د جنت حوریې تا ته ځان سنبالوینه

تره وهه بریک به مومې

که بري نه وي ځوانان تل په تور و مړینه

تمرین :۔ لاندې لغات په جملو کې استعمال
کړی :
نصرت ، جنګ ، عمل ، غیرت ، جهاد ، مسّت ،
مورچل .

که په جهاد کښې شهید نشوې

خدایږ ولالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

جانان مې ځان په دین شهید کړ

په تار د زلفو به کفن ورله ګنده مه

موږې لنډۍ توره مې راکړه

په وطن جنګ دې نه خپل ځان شهید وه

شهید په لوړه غونډۍ کې ږدې که

یولاس یې پرې ږدې ماشیندارې چلوینه

خال به دیارله وینو کیږدم

چې شینکي باغ کښې سره ګلاب وشرموینه

د جاهد له ستر ګو جارشم

دروس په زړه کښې ئې برچۍ منلې دینه

تاچې راکټ په اوږه کیښود

روسان له ویرې نه تانکونه تښتوینه

زما ځوانی ترې صدقه کړې
چې په اسلام یې غرغرې منلی دینه
دځرخې پله زندانه وران شې
په دین مین ځلمی دې پیروزلی دینه
جانان به ولې تـــوره نکـــړی
تر آخری مرچله نره ورسره ځمه
توتې توتې په تورو راشی
دبی ننګی اواز دې رامه شه مینه

حکیمانه خبری

هر مسلمان ته پکار دی چې د غه لاندینۍ لسګونۍ اسلامی وصیتونه په خپله عملی کړی. او نور وته یې هم د عمل کولو بنوونه وکړی:

۱- کله چې آذان واوري نو په هر کار کښې چې لګیا ئې هغه پریږده او دلمانځه اداء کولو ته تیاری ونیسه.

۲- د قرآن کریم تلاوت کوه او غوږ ورته نیسه، او د خپل ازمښتناک ژوند یوه شیبه هم په بې هدفه او بې ګټې کار کښې مه لګوه.

۳- زیار باسه چې عربی فصیحه ژبه زده کړې او خبرې اتری پرې وکړې.

٤- په هیڅ یوه کار کښې زیاته شخړه او جګړه مه کوه.

۵- له زیاتې خندا څخه ډډه وکړه ځکه چې زیاته خندا د خدای ﷻ د ذکر نه غفلت پیدا کوی.

۶۔ بی ځایه توکې مه کوه ځکه چې بی ځایه توکی د سړی وقار له منځه وړی۔

۷۔ د خبرو اترو په وخت کښې له ارتیا څخه زیات خپل آواز مه اوچتوه۔

۸۔ د غیبت کولو څخه ځان وساته او دنیکۍ له خبرو څخه پرته نورې خبرې کومه ګټه نلري۔

۹۔ کله چې د خپلو اسلامی وروڼو سره مخامخ کیږې خپل ځان وړته معرفی کوه ځکه چې دا اسلامی دعوت بنسټ پر معرفت او محبت ولاړ دی۔

۱۰۔ د یو کار وړاندې په کم وخت کوه دا ډنډ وړځی کار سباته مه پریږده۔

تمرین

۱۔ پورتنۍ چارې ترسره کول د مسلمان په ژوند کښې څه بدلون راولی؟

۲۔ نښو ونکی دې پورتنۍ درس زده کړو ونکوته دا ملاۍ په ډول ووائی۔

زما شهیده پلاره

سفر دی مبارک شه درپسی یم پدی لاره

زما شهیده پلاره

خاوند دسره کفن شوی

قربان پخپل وطن شوی

بلبل د شنه چمن شوی

تاریخ کوی ستاینه دی دهر یوه یادگاره

زما شهیده پلاره

تبریک دی شهادت شه

نصیب دی لوی عزت شه

باغونه د جنت شه

خوشحاله دی اسلام کړ د ملت لوی افتخاره

زما شهیده پلاره

ڕاپاتی کارنامی ستا
تاریخ کی افسانی ستا
د بنہ ژوند ترانی ستا
معلومہ دی میرانہ پہ تاریخ کی دہ نامدارہ
زہا شہیدہ پلارہ

آزاد دی خپل ژوندون کړو
ژوندی دی تمدن کړو
چہ جوړ دی پیوستون کړو
پہ توره دی خلاص کړی داوطن لہ استعمارہ
زہا شہیدہ پلارہ

پنځہ زرہ ګلونہ
تاریخ کی ستا نقلونہ
پراتہ دی یادګارونہ

داستاد توري شرنګ نه هرد بنمن ؤناقـــراره

زما شهیده پلاره

قربان چه دې خپل سرکـــم

انګریزدې در په د رکـــم

په توره دې بهرکـــم

نوبت دکرملین دی اوس چې تښتی له ګزاره

زما شهیده پلاره

غلطه شول شـــوروپان

بې مغزه انســـانان

ددې عصر لیـــونیـــان

اول په لا په راغلل اوس د تښتی ګوري لاره

زما شهیده پلاره

ددوکـــه فکر بدلـــ ؤ

راغـــلي په بـــل چـــل ؤ

چې کړې یې یرغـــل ؤ

توپونه که تانګونه طیاریږي شوي بیکاره
زما شهیده پلاره

نور ورک به شوروبان شي
د دوی ټول اجنټان شي
خبر به پرې جهان شي
پس دوی به همیشه له خپل ځونده وي بیزاره
زما شهیده پلاره

لنډۍ

لنډۍ هغه اشعار دی چې شاعرئ معلوم نه دی او هر حساس پښتانه او حساسې پښتنې د احساساتو هندارې ده.

د پښتنو په غرو، کلیو او بنارونکی، په شنو درو او لویو د بښتونکی د ځړوبی، ابشار تر څنګ، او دکیږدکه ارخ ته، د شپانه په سپیلی او د بهوال په نی کی او بالاخره د پښتنې خاورې په هرګوټ کی له دې اشعارو څخه په یوشان خوند اخیستل کیږی.

زاړه ئی دځوانۍ د خاطراتو په یاد وائی، زلمیان او پیغلی د خپل زلمیتوب شور او مستی پکی لټوی، مینانوته د راز او نیاز رویاری کوی، تورپالیان ورسره د تورو په میدان کی ګډیږی او پردیسیان په پردیسی د خپل وطن مینې پری تازه کوی.

دا اشعار څومره چې ساده، سلیس او روان دی هغومره

د پردیو ژبو له اغیزې څخه هم پاک دی بلکې د سیلابی (Syllabia) سیستم په اساس ځانته عروض لري، لومړی برخې لنډه (۹) سیلابه، اوږدو هم برخې اوږده - (۱۳) سیلابه ده.

احمد شاه بابا

احمد شاه بابا به اصل سدوزی او د محمد زمان خان زوی وُ چه په «۱۱۳۵» هـ کال کښی زیږیدلی وُ .

پلار یې د هرات مشر وُ او پر دپښتونوالی یې د خپل ځوی پالنه وکړه او منګیالی یې ورزده .

احمد شاه بابا د نادرافشار په عسکرو کښی د پښتنو یو توریالی مشر وُ . د نادرافشار تر مرګ وروسته (۱۱۶۰) هـ کښی د افغانستان مشران سره ټول شول او دی یې د «شیرسرخ بابا» په زیارت کښی چې دوه میله د قندهار د ښار جنوب خواته پروت دی ، په پاچاهی وټاکه او صابر شاه مجذوب په هغه زیارت کې د احمد شاه بابا پر سر جوغه ورکښیښوده .

احمدشاه بابا خولهٔ نیک خوی مشفق او منګیالی وُ د خپل اولاد او دبل چا فرق یې نه کاوه . پر بې وزلو ډیر مهربان وُ .

اجتماعی لنډکه

تل په زحمت پسی راحت وی
چا چه زحمت لیدلی وی راحت به وینه
په دنیامه نازیږی خلکو
دنیا فانی ده په ارمان به ځنی ځونه
په نسب څوک نه سړی کیږی
سړی هغه دی چه یی خوی د سړو وینه
د سړ د بنمن می هو بنیار بنه دی
نړه دبی عقله په دوستی ستومانه یمه

حماسی لنډیه

راشه پر قبر می اوربل کړه
که می پرمړینی پرشاوویني تپونه

تر تورې یالی مین به جارشم
چې د غلیم په وینو سره کاندی لاسونه

توري به نکړو نو به څه کړو
چې موشیدی د پښتنی رودلی دینه

په تورتوپک ویشتلی راشې
د بی ننګی احوال دی مه راځه مینه

مسلم ته خطاب

څودا اسلام لپاره نشې سر په دار مسلمه
پیدا به نکړې ترقي دخپل دیار مسلمه

څود پتنګ په شان دشمع په لمبه یوځ نشې
نه به واصل شې دمحبوب پښه دیدار مسلمه

څود بورا په شان وزه په اغزو نکړې خیرې۔
نه به واصل شې دچمن په ګلعذار مسلمه

څودې سرې وینې تویې نشې داسلام په مینه
نه به هډونه ددښمن کړې تار په تار مسلمه

څود نبی ﷺ هر قدم باندې قدم کښینږدې
پیدا به نکړې په هیڅ ځای کې اقتدار مسلمه

څود صدیق په شانې نشې په اسلام کې صادق
په چاپلوسۍ باندې به نکړې تمام کار مسلمه

څودی غیرت عمري (رض) په وجود نشی محکم
فتح به نکړي روم او مصر پدې چار مسلمه
څوچې اوصاف "حیدرے" په ځان کې نکړي پیدا
کله به سر کړي دد بنمن په سر دار مسلمه

تمرین

۱ـ زده کونکی دې پورتنی شعر په کتابچو کی ولیکی .
۲ـ لاندې لغات معنی او په مناسبو جملو کی یی استعمال کړی .
۱ـ ګلعذار ۲ـ اقتدار ۳ـ صدیق ٤ـ اوصاف .

د تنقیط علامات

بی له توره او حروفو څخه نسبي او علامې هم شته چه دلیک او خط په لوستلو او ویلو کې ډیره مرسته کوی چه په لاندې ډول بیانیږی:

۱ـ فاصله یا سکته (،)

دا علامه د عطف یعنی واو په ځای د مختلفو جملو د بیلولو او د وینا د انفصال د پاره استعمالیږی. لکه په دی عبارتونکښی: کابل، قندهار، هرات. او مزار د افغانستان لوی لویښارونه دي، چه بدګرزی، بدبه پرزی.

۲ـ وقفه (؛)، دا علامه د مشابهو جملو په آخرکی اینبودل کیږی او په ویناکښې له فاصلې نه زیاته وقفه او انفصال راوړی. لکه په دی عبارتکښی معلم باید د ښوونې په اصولو نښه پوه وی؛ څرچه وایئ هغه باید په شاګردانو زده کړی.

۳ـ نقطه (.) داعلامه د جملی په آخر کښی راځی اوله وقفی نه زیاته فاصله راولی لکه: د وطن مشران په مونږ حق لری. مونږ باید له دوی سره د زړه مینه ولرو او هر وخت یی په ښه نامه یاد کړو.

٤ـ دوی نقطی شارحه (:) داعلامه دهغې جملی په آخر کښی ایښودل کیږی چه وروسته یی تفصیل او شرح راځی. لکه: د وه کاره به کوی: یو به دروغ نه وایی. بل به له چا سره حسد نه کوی.

۵ـ رابط (ـ) داعلامه دیوی کلمی ربط له بلی سره ښئی. لکه: څلور ـ پنځه تنه راغلل.

که چیری دیوی کلمی نیمه برخه دیوه سطر په آخر کښی او نیمه برخه یی د بل سطر په ابتداء کښی راشی نو هم داعلامه دلومړی برخی په آخر کښی ایښودله کیږی چه له دوهمې برخی سره مربوطه ولوستله شي.

۶ـ لیندی ( ) د دی دووقوسی کرښو په مینځ کښی معترضه جمله ، خاص نومونه ، اعلاد او خارجی کلمات ـ لیکل کیږی لکه :

دپښتو یوښه کتاب (پته خزانه) پدی وړځو کښې چاپ شوی .

۷ـ تفریقیه [ ] هر کله چه په یوه معترضه جمله کښی بله معترضه جمله یا کلمه راشي نو لومړی معترضه د تفریقیه علامې په مینځ کښی او بله معترضه جمله په معترضه علامه کښی پدی ډول لیکل کیږی :

که ربنتیا وایم [خدای (جل جلاله) مې دې غاړه نه نیسی] داسې دغلو مل دی .

۸ـ غبرګی لیندی ، ممیزه « » کله چې یو عبارت له یوه کتاب نه نقل کیږي یا کومه مقوله راوړله کیږی نو په ممیزه علامه کښی یې لیکو .

۹- د استفهام علامه (؟) د اعلامه دهغې جملې په آخر کښې راځي چه مطلب ترې استفهام اوپوښتنه وي.

۱۰- د تعجب علامه (!) د اعلامه د تعجب، حیرت، تردید، امر اوندا په وخت کښې استعمالیږي.

۱۱- د انصراف علامه (...) د خبرو د قطع کولو په ځای یا د محذوفو جملو او کلماتو په عوض دغه تکي راوړل کیږي، - که چیرې دیوې جملې په پای کښې (....) څلور نقطې راغلې وي نو دري تکي د حذف شوو کلمو په ځای او څلورمه تکه د جملې د ختمیدو لپاره راځي.

پوښتنه- بسو وتکی دی د پورتنیو علاماتو د استعمال- ځایونه په عملی صورت شاګردانو ته وښیئ او په کتابچو کې دې ولیکی.

لږ ویل ډیر کار کول

مرد هغه چې همتناک بر کتناک
د عالمه سره خوږ په زیست وتروا ک
مخ یې مخ، قول یې قول، عهد یې عهد
نه دروغ نه یې فریب ته تش تپاک
لږ ویل ډیر یې کول په خاموشۍ کښې
د غنچې غوندې خوله ډکه سینه چاک
چې خبره د پستۍ د بلندۍ شې
په لویې لګه آسمان په پستۍ خاک
په تملین کښې لګه صبر په پستۍ کښې
په هر لوړئ څانګې زانګې لګه تاک
لګه ګل شګفته سروی تازه په باغ کښې
همیشه د بنو بلبلو پرې بلغاک

چه داهسې ښه ویل کا نړه حیرآیم
چه خوشحال راورله کومه دا ادراک

پوښتنه :
پورتنی نظم په نثر ولیکی .

احمد شاه بابا په افغانستان کښې د پښتنو د سلطنت
مؤسس وُچه په لږ و کلو کښې يې د افغانستان ټول
حدود په سياسي نقشه کې داخل کړل، ننګيالی
احمد شاه بابا څو پلا پر هندوستان، خراسان او ځينې
نورو ځايو حمله وکړه او بری يې ومونډ. د حضرت محمد (ﷺ)
خرقهٔ مبارکه هم احمد شاه بابا د بخارا څخه قندهار ته
راانتقل کړی ده په ايران کښې د نادر افشار او لا د پر
پاچاهی پرېښوده. احمد شاه بابا د ټول ملت د پلار پر
ځای ګڼل کيده. احمد شاه بابا د افغانستان لمړنی
ننګيالی پاچا دی چه د پښتنو همت ئې ټولی نړۍ ته
څرګنده کړ.

احمد شاه بابا په ۱۱۸۶ هـ کښې له شپږ ويشتو کلو پاچاهی څخه
ورروسته وفات شو. اوخپل نوم يې د افغانستان په تاريخ کښې
په زرين خط پرېښود.

وطن

جنګ دی د وطن په سر تیر شی له سرونونه
دی د نام ونګ خطر تیر شی له سرونونه
ای د توریالو خانه، ای د میرنو پلاره
څوبه ګرځی در په در تیر شی له سرونونه
داد بی تګی کوڅې نوری دلیدونه دی
داغ دی د زخمی ځیګر تیر شی له سرونونه
چاته ستر ګې اړوی چاته امید ونه کړی
زړه دی ټول پر هر، پر هر تیر شی له سرونونه
څوند که د عزت نه وی مرګ پری شرافت لری
لوی واړه شی تړه سپر تیر شی له سرونونه
وخت د غلبلو دی داوخت د شاځلمو دی دا
چیغه کړی په سمه اوغر تیر شی له سرونونه

مروکه پاتی کیږو دا ننګ پوره کوو مونږه
وخیژی د دار پرسر تیر شی له سرونه
چیغه د غیرت شی بیا تندر شی سیلاب شی بیا
تول کړی دا دهری تغر تیر شی له سرونه
دا ملی غرور او افغانی شان وشوکت زمونږ
نه منی بل سر پرسر تیر شی له سرونه

مناجات

خاونده هسی اراده او تصمیمونه راکړه
چې پرې دکفر لښکر ودسیسی ماتی کړم
په ګوزارونو کې می داسی برکت واچوه
چې داسیرو ولسونو زولنی ماتی کړم
هسی همت هسی غیرت او هسی توره راکړه
چه دستم او بې لاریو بتخانی مانی کړم
چه ستا په لارکې پې قربان کړم داسی سرغواړم
د مظلومانو په خیر ومین ځیګر غواړم
خدایه! لوړ خیال او لوړ عظمت د مسلمان راکوه
ما دینده دغلامیونه خپلواک وساته
چه د ذلت اودغفلت تورې پردې وخیرم
ماستا په لارکې ملاترلی او چالاک وساته

دارمانو نو دک زړګی می درته سپارمه زړه
د زمانې له آفتونو نه یې پاک وساته
له سوی آه نه می خاوندې تو پانه جوړکړه
له تویو وینو می غلیم ته سیلابونو جوړکړه

مآخذ:

۱۔ درحمان بابا دیوان

۲۔ تذکرۃ الاولیاء

۳۔ پارہ ۲۹ ۔ سورۃ ن والقلم کا بلی تفسیر

۴۔ سیرت النبی ﷺ پنځم توک

۵۔ آیات ۶۲۲ - ۶۳۳ (القرآن الحکیم)

۶۔ مجلی او ورځپانی

۷۔ د بهائی جان دیوان

۸۔ غوره اشعار

S-4431
1296

دچاپ کال‌حمل۱۳۶۹ دچاپ شمیر (۵۰۰۰)

دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

د افغانستان د تعليمي مرکز د نصاب
اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادي تنظيمونو د تعليمي نصاب توحيد، دي ته متوازن او جامع اسلامي بڼه ورکړل چې د هر ډول باطل پرستي او بدعتونو ضد وي. همدا ډاډ ترلاسه کړي چې د اسلامي کلي قوانينو او مفاهيمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصي هدف:

د اسي نصاب دی چې د اسلام سپاهيان او د حقيقت لارې تلونکو ته د ډيو والي او وحدانيت لار ښوونه کوي ترڅوچې دوي په مستحکم اودا يمي توګه د عالي او معقولو اسلامي سنتو او قوانينو متمسک وي.

د نصاب د اسلامي بڼو و ني او سواد «د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادي تخنيکي، مدني، معيشتي شرايطو په نظر کې نيولو سره» ضامن دی.

چې په عين وخت کې د نه شليدونکي پيوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مفکر سوحقايقو مبين وي.

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت بنودل د نړۍ والو ته، د کفر او کمونيزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپيڅلي قرآن د اصولو او قوانينو او د محمدی (ص) غرا شريعت د حنفي فقه په اساس خاص د خداي د رضا د حاصلېدلو په نيت د رماني د طاغوتيانو سره مبارزه د دې تعليمي نصاب آخري مرام دی.

املائی لارښوونې

املاء په لغت کښې مهلت ورکولو او د کولو ته وائی او په ادبی اصطلاح کښې خپلی خبرې یا دبل چا خبرې په صحیح ډول لیکلو ته املاء وائی .

که څوک له ځانه څه نشي لیکلای ، مګر دبل لیک له مخې یې نقل کولی شی دغسې نقل ته املا نشو ویلای . د املا خاوند باید دالاندې ټکي په نظر کښې ونیسي :

۱ـ څه چې لیکئ باید د صحیح تلفظ له مخې یې ولیکئ او په غلط تلفظ پسې ولاړ نشي ، په هره ژبه کښې د عوامو تلفظ او صحیح تلفظ یو څه فرق لري .

لکه په پښتو ژبه کښې الک وائي او هلک لیکی .

۲ـ دوی بیلې کلمې باید په لیکلو کښې یوه له بلی سره ونه

نښلو ولکه ټول سړي، چې دا باید په دې ډول ونه لیکو
(ټولسړی).

۳ـ که له دوو کلمو څخه یوه کلمه جوړه شوې وي لکه (ټولیشر)
نو بیا یې په لیک کښې بیلول ښه نه دی همدغه شان
(خپلواک) د یوې کلمې غوندې لیکو او (واک) له (خپل)
څخه نه بیلوو.

د دغه اساس له مخې د (بیلتانه) کلمه د جدایی په معنی
باید دا سې ونه لیکو. لکه، بې، له، تا، نه.

٤ ـ دا ملاؤ په لیکلو کښې دا مراعات هم ضروري دي چې
یوه کلمه د بلې په شان ونه لیکو مثلاً: (پوښتنه) د تپوس
په معنی او (پښتنه) د پښتون مؤنثه کلمه ده چې باید په
لیکلو کښې یو له بل سره فرق ولري. همدارنګه (نوی) او
(ګډیوشان ونه لیکو. (نوی) د جدید په معنی، (نه وی)ـ
د (نباشد) په معنی په لیکلو کښې هم باید فرق ولري.

په فارسی ، عربی او پښتو لیک کښی داسی کلمات شته
چی په کښی یی دځینو نورو کلمو سره فرق نه کیږی
لکه (شیر ، شیر) چی یوه کلمه د شدُ اوبله یی د زمری
په معنی ده چه د جملی له مخی یی معنیٰ معلومیږی مګر
په پښتو لیک کښی د دغسی کلمو فرق په آسانی سره
کیږی خکه په پښتو کښی د (ا ، ې ، د د ی ، ي ، سره فرق
لری یعنی (تیر ، لکه (تیر) ولی بیا هم په پښتو کښی داسی
کلمات شته چی د جملی له مخی یی معنی معلومیږی
لکه (خوله ، خوله ، خوله) په دی لاندی جملو کښی :
خوله یی په سروه ، په خوله کښی یی خبره نه دریږی .
خوله یې وکړه .

۱ - په پښتو کښی د نفی او نهې (نه ، مه) توری له افعالو
څخه بیل لیکل کیږی لکه (نه ځی ، نه کوی ، نه وینی) (مه وایه
مه کوه ، مه ځه ، مه غواړه) .

مګرپه (ښی ، نشته ، نکړی ، مشه) کښی یوخای لیکل کیږی .

۷ - پښتو توری : په پښتو کښی ځینی توری شته چی په فارسی اوعربی کښی نشته ددغو توروځایګیرنده لپاره پښتو املاء کښې دیراهمیت لری چې هغه دادی :

بس :- د اتوری ځینی پښتانه (خ ، ته نژدی اداکوی او - ځینی یې داسی تلفظ کوې چی آواز یې د (ش ، غوندی وی اوپه داسی لغاتو کښی لیکل کیږی لکه : (ښه ، لوښی ، اوښ) چی څوک یې یورازاوځوک یې بل راز تلفظ کوی .

کومه کلمه چه یوازې (خ) یا یوازی (ش) اداکیږی هلته نغه توری نه لیکل کیږی لکه (ختم ، خاوره ، شګه ، شفتالو) په دغه اساس - باید (خندل) په (خ ، (شندل ، په (ش ، او (ښندل) په بس ولیکل شي چې د دری واړو کلمو معنی ګانی وساتل شی .

بز :- د اتوری ځینی پښتانه لکه (ژ ، اوځینی یې لکه -

(گ) ادا کوی، نوکوم کلمات چې یوائی د (گ) یا (ژ)
غوندی لیکل کیږی هلته بیا دا توری نه راځی.
لکه (مالګه، ګوره، ژړیه، ژړنده)
او یا په هغو کلماتو کښی لیکل کیږي چې د لهجو د اختلاف
په وجه دغه دوه آوازونه ولری چې هم (ژ) تلفظ شی
او هم (ږ) لکه (ږلی، لږ، ګوږ).
ځ :- د دې توری آواز د (ز) څخه لږ څه درونددی چې
په ځینو پښتو کلماتو کښی یې لیکل ضروری دی. لکه (ځان،
ځنډ، ځیرک) او نور .....
په پښتو کښې ځینې کلمات شته لکه (څه) چې د تللو
امر دی، که دا کلمه په (ز) ولیکل شی نو (زه) د متکلم
ضمیر ترې جوړیږی همدغه شان د (ځوړ) کلمه که په
(ز) ولیکل شی نو د (زوړ) سره یې فرق نه کیږی،
کوم کلمات چې په فارسی کښی په (ج) ویل کیږی او په

پښتو کښې په (ځ) نو هلته باید همدغه پښتو (ځ) ولیکل شي لکه (ځوان، ځنګل، ځان). برسیره پردې په هغو کلمانو کښې یې لیکل هم ضروري دي چې که په (ز) ولیکل شي نو د پښتو دیوبل لغت سره التباس پیدا کوي لکه: ځریدل، زریدل.

څ:- دا هم پښتو توري دي چې فارسي او عربي کښې نشته او تلفظ یې (س) ته نږدې دي او ځینې کسان یې د (س) پر ځای استعمالوي، که د دغه توري پر ځای (س) ولیکل شي نو د ځینو کلمانو معنی بدلیږي لکه (څټ، څوک) چې (ست، اوسوک) ترې جوړیږي.

د، ټ، ړ:- دا توري هم په پښتو املا کښې ډیره زیاته برخه لري چې ځای پیژندل یې ډیر ضروري دي او صحیح تلفظ یې پکار دی که یو لیکوال په لیکو کښې د- (ټ) پر ځای (ت)، د (ډ) پر ځای (د) او د (ړ) پر ځای

حمد

همه وارہ په تسبیح دده مشغول دی
که ملک دی که پیری دی که انسان دی
هر ماهی یی په دریاب کښی حمد وایی
هر مارغه یی په چمن کښی ثنا خوان دی
حد پایان یی هیڅ سری موندلی نه دی
معرفت یی هسی بحر بی پایان دی
نه یی مثل نه یی مثال نه یی مکان شته
دی بی مثله بی مثاله بی مکان دی
پاک یې وګنه بی شکه بی ګمانه
له هغه چی د چا شک د چا ګمان دی
نه یې څوک په سترګو وینی نه لیدی شی
او بې چونه بی چګونه نمایان دی

(ر، ولیکی، نو دځینو کلمو معنی بدلیږی، د (ور، تول دار) څخه (ور، تول، دار) جوړیږی.

ن: - داتوری له (ن، څخه دروند اداکیږی لکه (منه، بن، تنی). پخوانو لیکوالو اوس هم ځینی لیکوال داتوری (نه، لیکی چې دوه توری (ن) او (ه، یې سره یوځای کړی او دیوتوری نوم یې وړباندې ایښی دی.

داتوری باید په بسیط دول (ن، ولیکو ځکه چې په مرکب دول یې لیکل په ځینو کلماتو کښې مشکلات پیښوی لکه (نړی، خونړی، کونړ، نړول) اوداسی نور.

گرانو زده کونکو! تاسو باید همیشه د پورتنیو املائی قواعدو او لارښوونو مراعات وکړی.

آرمان

د زړه په زړه کې مې یو ښکلی شان آرمان دی زما
ترسره کیږي خو روخلکو دا گومان دی زما

زړه می د زړه دنیا ته هر وخت پسخیږي قسم
غواړي دنیا دانسانیت دغه بیان دی زما

آزاد پیدا ، آزاد به ژوند کړم په آزاد وطن کې
دا می غیرت ، دا سی پښتو او دا ایمان دی زما

دلته دستالہ غیږی لرې په پردي کلي کې
وطنه ستا په دی غربت کې ژوند ون گران دی زما

زړه مي د زړه د نیاته کړې د قربانی خبرې
تول به جاړیږ وله وطنه دا اعلان دی زما

که شی پری تاندی د چمن اجل وهلې غوټه
دالپه وینه خوتری نسل ځلې قربان دی زما

مونږ د منزل په لاره وینو مثالونه کیښوه
نوردې راد رومي په دې لار کاروان روان دی زما.

ترانه

دجهل دوره تیره شوه داعصر دعرفان دی
بی علمه ژوندون گران دی

په حق پسې روان یو. دعلم پتنګان یو
دجهل د بنمنان یو
لښکر د معارف یو، لو مړۍ مورچه نام ونښان دی
بی علمه ژوندون گران دی

روان مخ په رڼا یو بنا غلی د دنیا یو
د هر مرض دوا یو
شپه تیره شوه دجهل، لمختلی دعرفان دی
بی علمه ژوندون گران دی

په زده کړه اوښورنه دحق کوو پالنه
د خپل وطن روزنه
زمونږ گرانه وطنه! دا موعهد او پیمان دی

بې علمه ژوندون ګران دی

دعلم په ځانګړکښې د عقل په کوڅوکښې

په غیږه د پښتوکښې

لوی شوې یومونږ وایه خپل وطن را باندې ګران دی

بې علمه ژوندون ګران دی.

تمرین

د معارف په پاره کې یولنډ مضمون په ساده الفاظو ولیکئ.

رحمٰن بابا

عبدالرحمان بابا په یوه غریبه کورنۍ کښې پیدا شوے
دی ددې نامتو شاعر ابتدائی معلومات تراوسه چا
مفصل ندی لیکلی. ددې له ځینو اشعارو او ځینو یادونو شمیر پوهانو
له معلوماتو څخه فقط دومره څرګندیږی چې عبدالرحمٰن په
قوم مهمند او د مهمندو د ډبها در په کلي کې زیږدلی دی.
عبدالرحمٰن پخپله زمانه کې یو صوفی مشرب او په
عشق کښې داسې ډوب شاعر تیر شوی دی چې په
خپلې فقیرمزاجی او په عشق کښې پې نا شوی حالت دی
د ټولو پښتنو په زړه کښې محبوب ګرځولی دی. ددې
رنګې خلک تراوسه هم هغه ونې ته چې دانا متوادیب به تر
لاندې کښینا ست او اشعار به پې ویل په ډیره درنه -
ستر ګه ګورې او ډیر احترام ئې کوي.

عبدالرحمٰن تر (۱۱۱۸) هـ کال پورې ژوندی ؤ ځینې خلک

داهم وائی چه رحمن بابا په ژمليتوب کښی يوه پلاخوشحال-
خان سره په اکوړه کښی ليد نه کړی ده نو په دی صورت
مونږ ددې نومیالی پښتون شاعر څرونډون کلونه-
له (۱۰۵۰) هـ څخه تر (۱۱۲۰) هـ پورې تخمين کولای شو.
رحمن بابا يو ديوان لری چه په دوو دفترو کښی ليکل
شوی دی . په دې دواړو دفترو کښې د شاعرانه فن
او ادبياتو نازک خيالی له مخې څه خاص فرق نشته. دواړه
دفترونه ديوه پاخه فکر اولوړ دماغ نتيجه ده .
د رحمان بابا اشعار ډير ساده ، سليس اوروان دی. د -
اشعارو مضامين يې اخلاقی، ديني اجتماعی او تصوف
لويه برخه لری ، د پښتو ژبې په کتابونو کښی دا ديوان يو
فوق العاده شهرت لری چه دبل شاعر ديوان دا سې شهرت
نه دی موندلی. پښتانه د رحمان بابا ديوان ته په درنه
سترګه گوری .

درحمان بابا د کلام نمونه

چه مدام د بل وعیبونه نظر کړي
خدای له خپله عیبه ولی بیخبر کړي
که یوه جوړانه عیب وینې به بل کښې
هغه یوه جوړانه عیب به یې لوی غر کړي
که دی خپله ګناه لویه لګه غروی
په حیله حیله به غرد مچ وژنکړي
که څوک تله دانصاف په لاس کې درکړي
خپل تنه او د بل آس به برابر کړي
تر لعنت دي په داهسی منصفی شه
چه له حقه وباطل وته ګذر کړي
تاته رب د ملایکو مقام درکړ
ته داخپل صورت پخپله ګاروخرکړي

که دې یو ویښته د ځان د پاسه کوږنۍ

ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړې

د ځوانۍ عمر دې تیر کړ په غفلت کښې

په پیرۍ کښې به څه زیره د محشر کړې

په پیرۍ کښې د ځوانۍ چاري نه ښایې

ته په ورځ د عاشورۍ به څه اختر کړې

لکه بیخ د زړې ونې چنجې وخورې

په دا تیر عمر به څه ښاخ او ثمر کړې

دغه باغ به دې خلاص نشي له خزانه

که چا پیر ورځنې سد د سکندر کړې

وبد خواه وته هیڅ څوک نصیحت نه کا

(رحمان) ستا په غم څریک دې که باور کړې

حکایت

زورور له بنایی چه په کم زوری ظلم و تکړی که څه هم کار یې خراپیږي لګه چه د روم د ملک یو بادشاه وُ، نوشیروان بادشاه ته یې یو قاصد ولیږه، کله چه قاصد دربار ته ورسید۔ ګوری چه یوه لویه مانۍ ده او بادشاه پکښې پر تخت باندې ناست دی۔

قاصد چه تماشه وکړه په هغه مانۍ کښې یو ځای ورته کوږ بنکاره شو نو یې له یوه پوه سړي څخه پوښتنه وکړه چه په دی ګلالی مانۍ کښې داځای ولی کوږ دی؟

هغه ورته وویل چې داخو دیوې بودې کوږ وُ، په هغه وخت کښې چه بادشاه دا مانۍ جوړوله نو هغې بودې ته وویل چه: داکور په ما خرڅ کړه، مګر هغې رضا نه وه او ویې ویل چه زورسره خو بادشاه داکار نه کاوه نو په دغه سبب داځای په دې مانۍ کښې کوږ پاتې شوی دی۔

قاصد وویل: رښتیا خبره داده چه دا کوږ والی ترهغه سموالی دیر ښه دی چې په ظلم سره شوی وای او داسې انصاف نه په کار ومنې زما نه ګنې چاکرې دی. اونه مې ګمان کیږي چې ورو سته به یې پادشاهان وکړي.

بادشاه چه دا خبرې د قاصد له خولې ځنه واورېدلې، دیر خوشحاله شو. انعام یې ورکړاو په دیر عزت یې رخصت کړ.

پښتو متلونه

د متلونو تعریف او مثالونه:

متلونه هغه پراخه مفهوم لرونکې، په وزن برابرې اولنډې وینا وې دي چې د استدلال د تائید لپاره د خبرو اترو په ترڅ کې ویل کیږي.

که څوک وایي لیدی نه شی لیدی نه شی
که څوک وایي وهرچا وته عیان دی
منزه دی د جملهٔ وجهتونو
او بیا هر جهت په ده باندی ودان دی

«رحمان بابا»

متلونه په ولسی ادب کی یوه په زړه پورې برخه تشکیلوی چې د هغه په وسیله د یوې ټولنې افکار، کلتور اود ودونه له یوې نسل نه بل نسل او له یوه ولس نه بل ولس ته د هغه ولس د عامه ذهنیت په متلشوي چوکاټ کښې لیږد ډول کیږي.

متلونه په هره ژبه کی د فولکلور یوه غوره برخه تشکیلوی. داستدلال د تائید نه پرته د خبرو د ښکلا د پاره هم استعمالیږي. او اغیزه یی په مقابل لوری دومره زیاته وي چې په ځینو موارد وکی د مطلب د ثبوت لپاره یوازې دیوه یا څو متلونو ویل کفایت کوی. په شفاهی ادب کی پښتو ژبه د متلونو له درکه یوه شتمنه ژبه ده چې شمیر یی زرګونو ته رسیږی.

پښتانه د متلونو له استعمال سره ډیره مینه لري او زیاته وخت یی د اخلاقی نصیحتونو او ټولنیزو لارښوونو لپاره استعمالوي او استعمال نمونې یی پدې ډول دي:

۱- کوښ بارتر منزله نه رسیږي.

دامتل پښتانه په هغه ځای کې وایي چې څوک وغواړي په ټګي ، برکې او دروغو سره ځان یوې رتبې او ځای ته ورسوي. ځکه دا دنیا پیسو او تجربو دا ښودلې ده چې که دیوه دیوال بنسټ[1] سم او پوخ وي نو دلوید وخطر یې کم وي او که نه په لږ وخت کې به لویږي.

دامتل په هغه ځای کې هم ویل کیږي چې دیوه کار اساس په دروغو بناوي او هغه کار دکید وړ نه وي. لکه چې یو شاعر هم ویلی دي:

ومنزل ته نه رسیږي که پوهیږي
هغه خلک چې تر لې یې وي بار کوښ

۱- بنسټ : تهداب ، اساس.

۲- څه چې کړې هغه به ریبې :

دنیا د پټې مثال لرې اود انسان ټول اعمال اوکارونه د۔ تخم په څیر دي . انسان چې په دنیا کې هرڅه کوي اوهر عمل سرته رسوي اړومرو به دخپل عمل میوه اوحاصل لاسته راوي . که یې ښه کړي وي حاصل به یې نیک اوښه وي۔ اوکه ئې بد کړي وي نو حاصل به یې ناوړه اوخراب وي.

۳- میړونه مړي اونوموړنه یې پاتې کیږي :

دامتل په هغه ځای کې ویل کیږي، چې یوسړي بل۔ څوک مړي لاړې ته تشویق اولارښوونه ورته وکړي ، ۔ همدارنګه نوموړي متل د نومیالو په ستاینه اود هغوی یادونې په کیسو کې ویل کیږي .

۴- چې غورځې هغه پرځې .

دامتل سړي ته وړاندې چې انسان باید په هرڅای کې اعتدال وساتي اوپه کارونوکښې له خپل حدوا ندازې نه تیرې

ونکړي که نه نو داسې زيانونه به ورپېښ شي چې
بيا به ئې چاره نشي کولی .

۵ - چې مرشي هغه پرشي .

پدې متل کې دې وفا دوستانو او يارانو څخه ګيله کول دي.
ځکه بې انصافه اوحق نه پيژندونکی وګړي ترڅو چې يوسړی
ژوندی وي په سنو سره يې ستايي . او کله چې مرشي نو
بيايي په بد و ياد وې او يايې هيرکړي .

۶ - څپله ژبه هم کلاده هم بلا :

څرنګه چې ژبه په تولنيز ژوند کې زيات اثر لري .
نوکه ژبه په سنه توګه استعمال شي د ويونکي د سنه شهرت،
نيک نامۍ او برياليتوب سبب ګرځي اوکه په بد واستعمال
شي نو د ويونکي د بد نامۍ ، خواشينۍ اوناکامۍ موجب
کيږي .

لکه چې يو شاعر دې مطلب ته داسې اشاره کوي :-

په واک چې نارې په کار کې ژبه

چې ګونګ شي ښه دی په لوبه تبه

په بده ژبه ځان ځي، جهان ځي

ایمان لاهم ځي واوره طالبه

۷- میره مرکه ، میرانه یې مه ورکوه.

څرنګه چې افغانان میړني ، تورزن ، ننګیالی ، حق غوښتونکی اوحق پالونکی دي .

نوترڅه خبره دوی ته هغه ده چې څوک یې دپوره تنې وصفاتو څخه منکر شي .

۸- خپل عمل دلاری مل .

دامثل پداسې ځای کې ویل کیږي چې دویونکی مطلب نصیحت کول وي . یعنې بل سړی ښه کولوته رابولی . ځکه چې انسان ذدې نړۍ څخه ځي اوددې دنیا لارښې نو پدغه وخت کې دهغه پوښتنه کیږي . د دغې

پوښتنې غوره ځواب او بنه وسیله سپیځلی عمل دی۔
که بنه یې کړې وي خلاصی به مومي، اوکه بدیې کړی وی
نو سزا به وویني. همدارنګه په دنیاکي هم سړی ته دخپل
عمل بدله رسیږی.

په پښتو ژبه کی متلونه خورا ډیرا همیت لري، هریو
پخپل ځای کی استعمالیږی. اوله هرمتل څخه، جلاجلا مطلب
اخیستل کیږی. څرنګه چی د پښتو ژبی دتولو متلونو تشریح
کول دلته امکان نلری، نو یو شمیر متلونه په لاندې
دول لیکو:

۱- دګورشپه نه په کورکیږي.
۲- مارخوږلی له پرې بیریږي.
۳- چی په تمه دسپروشي. هغه پاتې به میروشي.
٤- بنده ترخپل وس پردي.
۵- اوبه په ډانګ نه بیلیږي.

٦- او بواخیستی څک ته هم لاس اچوي .
٧- په درنو درهوند ، په سپکو سپک .
٨- د کبرکاسه نسکوره ده .
٩- مه کوه په چاچی وبه شي په تا .
١٠- خپل عیب دولوینځ دی .
١١- له یوه لاسه تک نه خیژی .
١٢- په یوه څپیړه سل ځله خوبزیږی .

تمرین

١- بسرونکی دی دپورته متلونه داستعمال ځایونه زده کړه توضیح کړی .
٢- شاګردان دې پورتنی متلونه په یاد زده کړی .
٣- زده کړونکي دې پورته متلونه په کتابچو کی ولیکی .

اخلاص

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

که له زمکې و آسمان ته خانته ګران دی
د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص

چې خبر کا مخلصان له علم غیبه
د اهمه واړه الهام دی د اخلاص

د رواج او رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چې مدام دی د اخلاص

بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص

څه عجب دی که مستان وی تر چا پیړه
هر ساقي څخه چې جام دی د اخلاص

څه عجب دی که همای یې په دام نښلی
هر صیاد څنې چې دام دی داخلاص
پس له مرګه به دا مهر و اخلاص نه وی.
که اخلاص کړې نن هنګام دی داخلاص
درحمان کلام په داسې شیرین دی
چې یې هر کلام، کلام دی داخلاص
(رحمان بابا)

تمرین

۱- زده کړنکی دې پورته شعر په نثر واړوي.
۲- زده کړنکی دې داخلاص په پاره کې یوه مقاله ولیکی.
۳- زده کړنکی دې لاندی لغات به مناسبو جملو کی استعمال کړی:
اخلاص، ګام، علم، صیاد، حلاوت، هنګام.

۱- الهام: د الله ﷻ له لوری د مؤمن په زړه کې د نیکی خبری غورځول دي. ۲- حلاوت: خوږوالی.

حضرت سعد بن ابی وقاص (رض)

حضرت سعد رضی الله تعالی عنه د ستر پیغمبر محمد ﷺ دلمړنیو اولو رتبه اصحابو له جملی څخه دی. کله چی د حضرت سعد رضی الله تعالی عنه مور (حمنه) د هغه له مسلمانید و څخه خبره شوه، د ومره غمجنه شوه، چی خوراک، څښاک او خبری یی بندی کړی او ویی ویل «تر څو چی سعد له اسلام څخه لاس واخلی نو زه به هم اسی یم تر هغی چی مړه شم». هغه تر دری ورځو پر کاله پرته وه. او همدا یوه خبره به یی کوله. مګر حضرت سعد رضی الله تعالی عنه له مور سره د ریاتی مینی سره سره په خپلی اسلامی عقیدی ټینګ ولاړ وو، او خپلی مور ته ئی داسی ویل: مورۍ ته پرماد یره ګرانه یی خو په خدای (ج) سوګند که ستا زر سا ګانی وی او هره شیبه دې یوه یوه ساوځی نو بیا به هم زه اسلام پریږدم.

نعت

رب العلمین دی رحمة للعلمین ګڼي
نلری ثانی چه دی خاتم النبیین ګڼي
د پیرخلك دی وایستل تیارونه درنالورته
ستالاس کښی رنا مسلمانان نورالیقین ګڼي
ته په مومنانو مهربانه له هرچا نه وی
ځکه دی رؤف رحیم ارحم الرحمین ګڼي
ستا خلق عظیم خو په قرآن کښی خدای ستایلی دی
نور خلق لاځه چه مشرکادی هم امین ګڼي
د پیردې له دوزخه ګرځولې د جنت لورته
بنایې درسره چه دی شفیع المذنبین ګڼي
تا مؤمن په بعث بعد الموت باندی مؤمن کړلو
نه مړی مؤمنان آب حیات دا سلام دین ګڼي

یوه ورځ حضرت سعد (رض) له مکی نه بهر له خپلو خو تنو
ملګرو سره په یوه پټ ځای کښی لمونځ کاوه ، ناڅاپه هلته
یو څو مشرکین راپیدا شول ، لومړی یې ورته سپکی سپورې
خبرې وکړې او بیا ئې پرې حمله وکړه په دغه وخت کی چه
د حضرت سعد (رض) د ځوانی پسرلی وو سخته غوسه ور غله ،
یوی خواته دیوه اوښ د پښې هډوکی پروت وو هغه یې را
اوچت کړ او پر مشرکانو یې حمله وکړه د جګړی په ترڅ کې
دیوه مشرک سرمات کړ او وینی یې پرې وبهولې وروسته
بیا هغه نور و تښتیدل . علامه ابن اثیر (رح) وایی چی حضرت سعد (رض)
لومړنی مسلمان دی چی له حق نه د دفاع په لاره کې یې وینه
وبهوله ، تر هجرت د مخه یې دری کاله د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
په ملګرتیا د مکی د مشرکینو په اقتصادی او اجتماعی بندیزکی
بی ساری کړاوونه وګالل .

حضرت سعد رضی الله تعالی عنه د بدر ، احد ، احزاب ، خیبر ،

حنین، د مکې د فتحې او تبوک په غزا کې نوکې د حضرت پیغمبر ﷺ سره د ملګرتیا و یا رحاصل کړی ؤ.

د احد په جګړه کې د حضرت سعد رضی الله تعالی عنه وروره عتبه د مشرکینو په کتار کې ولاړ وه او د جګړې په تړ کښې د عتبه د ډبرې په ګوزار سره د رسول الله ﷺ مبارک غاښ شهید شو.

حضرت سعد (رض) چې له دې پیښې نه خبر شو نو قول عمر به یې ویل: (۱) په خدای (ج) شوګند چې زه له عتبه نه پرته د هیڅا وینې ته د ومره تږی شوی نه یم.

حضرت سعد (رض) د ابوبکر صدیق (رض) د خلافت او همدارنګه د حضرت عمر (رض) او حضرت عثمان (رض) د خلافت په دوره کښې مهمې وظیفې اجرا کړې دي. بالاخره په کال ۵۵ هـ کښې د (۸۲) کالو په عمر وفات او د مدینې منورې په جنة البقیع هدیره کښې خاورته وسپارل شو. انا لله وانا الیه راجعون

---

(۱) بې ګڼه: بې انډاری، لحد نه زیات. (۲) ستوتری: مشکلات. (۳) ږیدی: اهتزاز

هـمدردی

ژاړی پـه غـمونو کښی خواخوږی له هرچا سره
سل پتنګان سوځي دیوی شمعی ژړا سـره

ډک زړګی له اوښکو ګرځی وریځی په آسمان کښې بیا
څه ژړا ملګرې ده د ژوندیو پرې ښـنا سـره

ټول باغ ژړهیدلی ځکه اوښکی دې د ګل په مخ
ډیر لکه لاله داغلي زمونږ شته صحرا سره

نه ښایی انسان ته چې د بل په غم غمجن نشي
لویه بدبختی ده که څوک نه ژاړی له چا سره

داسې بیغمي دې خدای (ج) په هیڅ کور کښی پیدا نکړی
یو کور کښی چې ویروی او بل خاندی له لیلی سره

«الفت»

بنورنکی دي زده کړي نکوته کورنی وظیفه ورکړی چې پورته شعر په نثر واړوی .

مذکر او مؤنث

تول نومونه په پښتو کښی د جنسیت له مخی په دوه ډوله دی. ۱- نرینه ۲- ښځینه.

دغه دواړه قسمه ځینی نښی لری چه په لاندی ډول ـ ښودل کیږي.

۱- د نرینه نوم نښی: کوم نومونه او صفتونه چی په پای کښی یی دغه وروسته علامی راشی مذکر (نرینه) نوم ګڼل کیږي.

الف:- نرمه (ی)، لکه: لرګی، منګی، سړی، وږی تږی.

ب:- څرګنده واو، لکه: تالو، چاکو، بانو.

ج:- کوچنی (ه)، لکه: تره، وراره، زړه، نیکه.

د:- نرم واو لکه: پلو، لو، کندو.

هغه تول نومونه چه په آخر کښی یی اصلی توری راغلی وی

او سماعی مؤنث ندوی مذکر گمل کیږی، لکه میز، لاس اور، غل، مل.

یادونه: هغه ساکنه (ی) چه د څخه یی ساکن «و» اویا الف وی د اصلی توری حکم لری لکه: نروی، سوی، لوی، ځای، چای.

۲- د مؤنث نښی: هغه نوم چه په پای کښی یی یوه ددغه دروستینو نښو څخه راغلی وی مونث (نښینه) نوم گمل کیږی.

۱- څرگنده (ه) لکه: اسپه، لښته، پښه، قوره، سپینه.

۲- نروركی والا (ی) لکه: خولی، دودی، څپلی، څوکی.

۳- الف: ژړا، خندا، نڅا، ملا، شا، شورا.

٤- اوږدواو، لکه: بنارو، زانگو، لامبو.

۵- څرگنده (یې) لکه: قینچی، دوستي، بنادي، وروي.

مګر په نسبتي صفتونو کښې څرګنده (ی)، د مذکر د پاره رائی، لکه: دوبي، موچي، ډولي، ربابي.

۶- اوږده (ې)، لکه: ادې، ناوې، مګرې، تیږې.

د مؤنث قسمونه

مونث په پنځو کښې پرځلورو ډولو ویشل کیږي.

۱- حقیقي لفظي مؤنث: (ساکښ، نښه وال) د هغه ساکښ اونرېږوح نوم وي او د تانیث نښه هم پکښې وي لکه: غوا، چرګه، اسپه.

۲- حقیقي غیر لفظي: (ساکښ، بې نښې) چې دیوه ساکښ نوم وي او تانیث نښه نلري لکه: مور، خور، تروره. دې قسم مونث ته معنوي مؤنث هم وایي.

۳- غیر حقیقي لفظي (بې ساکښه نښه وال) هغه مؤنث ته وایي چې د بې ساکښ نوم وي او تانیث علامه هم پکښې وي لکه:- لنبته، پانه، غرمه، څوکه، رنا، زانګو.

٤ـ غیر حقیقی غیر لفظی: (بی سا، بې نښې) هغه ته وایی چې دیو بی سائی نوم وي اودتانیث نښه هم پکښې نه وي لکه لمن، ستن، برستن، میچن. دی قسم مؤنث ته سماعی مؤنث هم وایی.

یرغلګرته

ای دجهاز ، توپو ، ماشین خاونده!
نن خو زما وینه وریسا وګنه
شاباش زما په وینولوبې وکړه
دادې په خپل کاله سبا وګنه

حق په اسانه چا پریښې نه دی
حق قربانی همیش د سرغواړي
حق نه ځوکیږی په باران داوښکو
حق تل د وینو اوبه خوړ غواړي

---

۱ ـ شاګردان دي دلاندې بیت مفهوم دیوې مقالې په څیر ولیکی.
حق نه ځوکیږی په باران د اوښکو حق تل د وینو اوبه خوړ غواړي.

توکه

دکرملین نایی

یوه ورځ برژنف په (کرملین) کی سرجورولوه. نایی یی
بنې غوږته خوله نږدې کړه او ورته یی وویل چه: ملګری
صدر هیئت رئیسه! د افغانستان موضوع څنګه شوه. -
برژنف ورته په قهر وکتل او ورته ئی وویل: ته نایی سړی
یې خپل کارکوه ستاله افغانستان سره څه کاردی. نایی:
نښه صاحب. کوم وخت چه سرجورونه نیمایی ته ورسیده
نونایی د برژنف کین غوږته خوله نږدې کړه او ورته ئی
وویل: ملګری صدر صاحب!
د افغانستان معضله څنګه شوه؟
برژنف په تریو تندی او تُنده لهجه ورته وویل: خپل
کارکوه نایې وویل: نښه صاحبه!
کوم وخت چی سرجورونه خلاصه شوه او برژنف

خپله کورته واغوسته او شپوخولی یی په سر کړه نوله
نایی نه یی پوښتنه وکړه چی: دافغانستان موضوع تا-
پوری څه اړه لری چه گرمی، گرمی پوښتنی دی کولی؛
نایی په ډیره مؤدبانه لهجه ځواب ورکړچی صاحبه!
دافغانستان موضوع په ما پورې هیڅ اړه نلری. اوله-
سره ورسره علاقه نلرم مگر کله چی به ما دافغانستا
نوم واخیست ستاوینښتان به نیغ ودریدل اوداډیر
خولی ته به ډیر ښه راتله اونورها کار به یی آسانه
کاوه.

غیب ته دی نظر متوجه د مؤمنانو کړ

څکه حیواني نظر سطحي اوظاهربین ګڼي

دی دنیا نه بنه بله دنیا ځانته مؤمن لري

هلته مؤمن هرڅه لري کله ځان مسکین ګڼي

بار دد نیا هرڅومره که سپک وی څه پروالری

تله د عمل یې که درنه وی ځان سنګین ګڼي

ستامینه می بس ده چه له ځان سره یې خلاته وهم

ستا رضا "الفت" رضا د رب العالمین ګڼي

چه ګټل خوږ بخښل کاځوان هغه

چه ګټل خوږ بخښل کاځوان هغه

چه توره لری د توږې خان هغه

کان دلعلو د یاقوتو ګوهرخه دی

چه احسان تږې پیدا کیږی کان هغه

چه ئی ته په ګیډه وخوږې حبطه شی

چه مجلس سره خواږه شې خوان هغه

که د مال دی که د ملک دی که د لیچو

چه توان دچا په کار شی توان هغه

چه دی څوک د وړاندې وروستنی داځه شو

په تنها وجود چه شان دی شان هغه

ونورچا وته وران مه وایه «خوشحاله»

چه په تولو عهد وروان شو روان هغه

تمرین: د انظم ولولی اود هغه مفهوم په ساده الفاظو یې ولیکی.

لیدلی چا

داهسی غټ ظلمونه په جهان لیدلی چا
کورونه په بمونو داسی ویران لیدلی چا

دچا ور وریم لاندی مړ شود چا مور اود چا پلار
تاریخ کی دابی وزله شهیدان لیدلی چا

څوک شل او څوک شهید شو څوک تر اوسه دلاډرک
بی کوره او بی خپلوانو یتیمان لیدلی چا

څوک وژنی په تانکو نو څوک په ګاز څوک په نیپال
آدم نه تردی دمه داوحشیان لیدلی چا

واړه زاړه په تیغ جلالوی داقصابان
په وینو کی پراته داسی خواران لیدلی چا

نه شرم نه حیالری نه پیژنی وجدان
انسان دوینو تږی لیونیان لیدلی چا

تسخیر د شرق شیطان چکوسلواک اوبخارا کړه.

په شکل د بشر دا بنا ماران لیدلی چا

دهر مظلوم ملت وینی نه بهیږی کمونستان

نړی کی کله داسی ظالمان لیدلی چا

که هر څومره روسان کوی بمبار او قتل عام

سنگر نه تښتیدلی مسلمان لیدلی چا

څوځله یی د بنمنان د خپل وطن څینی شړلی

هیواد باندی صادقه عاشقان لیدلی چا

جهاد لپاره یی وترلی ملا ډیر په اخلاص

خدمت کی د اسلام داسی غازیان لیدلی چا

ګلریږي ورته ماتی کړي پښتی هم پښی لاسونه

فریاد نعری وهی داسی حیران لیدلی چا

په زور د ګلګ ایمان به کړی آزاد افغانستان

بی غمله د غه ویری شورویان لیدلی چا

دوخت ارزښت

هغه څوک چې خپل ارزښناک وخت د علم په تحصیل کښې تیر کړي عالم او فاضل به شي د غسې کسان به لږ وي خو د څرونده نه د ستونزو سره په اسانۍ مقابله وکړي اوله بلې خوا به د خپلې اسلامي ټولنې لپاره د خدمت وړ وګرځي.

هغه خلک چې د وخت په ارزښت نه پوهیږي، وخت غنیمت نه ګڼي د خپل وخت څخه د تعلیم په زده کړه کښې کار نه اخلي، د غسې وګړي د علم د ګټې څخه بې برخې پاتې کیږي او نشي کولای چې خپلې وړتیا ړ چارې په ښه توګه سرته ورسوي.

همدا رنګه که مونږ اوتاسي خپل تیر شوی عمر ته ځیر شو نو دی نتیجې ته به ورسیږو چې زهونږ ټول عمر د پرلنده دی رحمان بابا د غه مطلب په ډیر خوږو او عام فهمه الفاظو سره د پرښه بیان کړیدی لکه چې وایي:—

ژوندګی که څوک پوهیږی حضور دم دے
آینده او رفته کله د چا یادشی

ددې لپاره چې آخروی اود نیاوی ګټه یی تر لاسه کړو
اود ښه ژوند خاوند ان شونو پکار ده چې وخت ته په درنه
سترګه وګورو، خوشی او بیځایه ئی تیر نکړو، تل هغه کار و
چې خیل وخت د الله ﷻ په عبادت اود علم په زده کړه کی
تیر کړو. د پښتو ژبی نومیال شاعر رحمٰن بابا دی
مطلب ته هم داسې اشاره کوی چې وایی:

یو نفس مه شه غافل له نفس کښو
مباد اچه دې دغه اخر نفس وی

روسان یا د بشریت دښمنان

کله چې د روسی یا روسانو نوم اورو، نو د نړۍ تر ټولو ظالمو درندکانو وحشتناکه څیره مو تر سترګو شی، داځکه چې روسانو هغه جنایات ترسره کړی چې د نړۍ په تاریخ کښی ساری نه لری.

څرنګه چه کمونستان تر ټولو زیات له مسلمانانو نه ویریدل او اسلام یی د ځان د پاینښت په لارکی تر ټولو لوی خنډ باله همغه ډچې لومړی یی د مسلمانانو په ټکولو پسی ملاوتړله. دمخکنی آسیا مسلمانانو هر یوه پخپل وار د کمونستانو د وحشت څپیړه پرمخ وخوړه؛

د روسي اوپردو باندی د کمونستانو تیری د تاریخ په وینولرلی باب دی. علمایی تر تیغ تیرکړل؛ د له ایزې وژنې یی وکړې؛ جوماتونه یی له خاوره سره برابرکړل. د دینی مدرسو دروازې یی وتړلې او دینی زده کړه یی جرم وګڼله؛

دخلکو شتمنی یی لوټ کړی او په سلګونو داسی نورجنایات
یی ترسره کړل.

روسانو د ۱۳۵۸ لمریز کال د جدی میاشتی په شپږمه
نیټه دخپلو تولو ژمنو او بین المللی قوانینو پرخلاف زمونږ
پرګران اسلامی هیواد افغانستان نظامی تیری وکړ او -
افغانستان یی د ځان لپاره غوره مړی ګڼلې وه، که څه هم
روسانو د خپلو لاسپوڅو په مرسته همغه په منځنی آسیا کې
کړی جنایات په افغانستان کی تکرار کړل؛ خو زمونږ مسلمان
ملت په وسله وال جهاد لاس پوری کړ او د روس د هیبت
طلسم یی مات کړ څکه تولې نړۍ ولیدل او ګوری چی د افغان
مجاهد ملت بې ساری مقاومت روس دلویې رسوایی
او ماتې سره مخامخ کړیدی.

د افغانستان دمؤمن او اتل ملت جهاد نه یوازې په افغانستان
کی روسان له ناکامۍ سره مخامخ کړل بلکه د روسی بنکیلاک

په ځنځیرکی بنکیل شویوا ولسونوتهیی هم دا جرأت ورکړ څو
دروسی دا استکبار په وړاندې آزادی بښونکی غورځنګونه
پیل کړی چې دې کار روسی واکمنان له زیاتې وارخطایی
سره مخ کړیدی اوس په منځنی آسیا او دنړۍ په نورو
سیمو کی آزادی بښونکی غورځنګونه منظم فعالیت کوی
که خدای ج کول هغه وړځ نژدې ده چې اولسونه خپل
مقصد ته ورسیږی او دروسانو دا سارت ځنځیر وشلوی.
(په ګران اسلامی افغانستان او ټولو نړۍ کی د نړیوال-
استکبار د پرځید واود قرآن کریم دحاکمیت په هیله).

تمرین

۱- کمونستان د منځنۍ آسیا له مسلمانانو سره کومې نا پوهۍ وکړې ؟

۲- ښوونکی دی له انسانی ټولنی سره د کمونستان د جنایاتو په باب شاګردانو ته زیات معلومات ورکړي .

۳- ښوونکی دې شاګردانو ته وظیفه ورکړي چې د کمونستانو د جنایاتو په باره کې لنډې مقالې وليکي .

مفرد او جمع

نوم د شمیر له مخی پرد وه ډوله دی. مفرد او جمع، مفرد هغه دی چې پر یوه شی یا یوه کس باندې دلالت کوی. لکه: هلک، ونه، لرګي، او جمع یې هغه ده چې له یوه نه پر زیا تو شیانو او یا کسانو دلالت کوی لکه: هلکان، ونې، لرګی.

په پښتو کښی تولی جمعی له مفرد څخه د څینو علامو په راوړلو جوړیږی د نارینه جمعو د جوړولو علامی دادي: (ی (ه)، ګان «اه»، یان (ان)، ونه) او ښځینه جمعی د دې علامو په راوړلو جوړیږی (ی، ې، ګانې، وی) د نارینه جمعو د جوړولو قاعدی په لاندی ډول بیانیږی.

۱- د هر مفرد نوم او صفت چې په ای کښی نرمه (ې) راغلی وی په جمع کښی د غږ (ې) پر ځای کنده (ي) بدلیږی. لکه په لاندی مثالونو کښی.-

دغازیانو کور

دتوروغرونه مینځ کښی، هلته چی هسک غرونه
داسی سره غاړه غړی شویدی چی دلمر وړانګی
لاهم نشی کولای لاړه موندلکړی.....

چیرته چی اتلولی اومیړانه ژوندی وی هلته
بی ننګی اوسپیتا نه مړه وی، په هغه ځای کی دبیوالی
اوبی رحمه توب ځای خپلوالکی اونارینتوب نیولی دی.....
په کوم ځای کښی چی د اقبال، په وینا زړکی نۍ له بانبونه
باج، اخلی اوله هوسیو څخه یې شرمښان تښتی.....

هو! همغلته دغازیانو کور دی.

هغه غازیان چی له برمه یې په لیرې لیرې ځایونو کښی
د بښمنان په هوسائه سره خوب نشی کولای دالله اکبر
ل زغمه نۍ غرونه ریږدی اوسیندونه په څپو راځی اوله
پاځیدلو سره نۍ په یرغلګرو لرزه راځی. اودستر گو په

مفرد	جمع	مفرد	جمع
ستوری	ستوري	پلی	پلي
نوی	نوي	اغزی	اغزي
لونبی	لونبي	لرگی	لرگي

یادونه :- په دی قسم نومونو کښی ساکښ نومونه یا صفتونه او نسبتی ساکښ صفتونه د مفرد په آخر کښی د (آن) په راوړلو هم جمع کیږی لکه:

مفرد: میږی، غویی، خوږی، شاپیږی، کابلی، کندهاری، سدوزی.

جمع: میږیان، غویان، خوږیان، شاپیږیان، کابلیان سدوزیان.

۲- ساکښ صفات چه آخر کښی یی څرګنده (ي) یا څرګنده واوړ اغلي وي د (ان) په راوړلو جمع کیږی لکه:

مفرد: موچي، دوبي. جمع: موچیان، دوبیان.

۳- هر صفت چه په منځ کښی یی واویا ای، راغلی وی اودغه واو (ی) په مؤنث کښی غورځیدلی وی نو په جمع کښی هغه په الف بدلیږی او په یا ی کښی یی کوچنی (ه)، زیاتیږی، لکه :

مفرد : پښتون ، ښوند ، روان ، تریخ ، تریو .

جمع : پښتانه ، راونده ، رانه ، تراخه ، تراوه .

٤- ځینی دوه توریز یوځیه ئیز صفات د کوچنی (ه) په زیاتولو جمع کیږی ، لکه :

مفرد : غل ، مل ، مړ ، سور ، شین ، اوم ، اوږد .

جمع : غله ، مله ، مړه ، سره ، شنه ، اومه ، اوږده .

۵- هغه نومونه او صفتونه چه په آخر کښی یی اصلی حرف راغلی وی که ساکښ وی عموماً « دان » په زیاتولو اوکه بی ساوی د « ونه » په زیاتولو جمع کیږی لکه :

مفرد : چرګ ، اوښ ، ځوان ، مین .

جمع : چرگان، اوښان ، ځوانان، مینان .

مفرد : کور، کال ، پور ، توپک.

جمع : کورونه ، کلونه ، پورونه ، توپکونه .

یادونه : په دې قسم نومونو کښې ساکښ نومونه یا صفتونه اونسبتی ساکښی صفتونه د مفرد په آخر کښې د ،آن، په راوړلو هم جمع کیږی لکه :

مفرد : میږی ، غویی ، خوری ، شاپیری ، کابلی ، کندهاری ، سدوزی .

جمع : میږیان ، غویان ، خوریان ، شاپیریان ، کابلیان ، سدوزیان .

۲ـ ساکښی صفات چه په آخر کښی یی څرګنده واوړاغلی وی د ،ان ، په راوړلو جمع کیږی لکه :

مفرد : موچی ، دوبی .

جمع : موچیان ، دوبیان .

عموماً د «ان» په زیاتولواوکه بې ساوی د «ونه» په زیاتولو جمع کیږی لکه :

مفرد : چرگ ، اوښ ، ځوان ، مینی .

جمع : چرگان ، اوښان ، ځوانان ، مینان .

مفرد : کور ، کال ، پوړ ، توپک .

جمع : کورونه ، کلونه ، پوړونه ، توپکونه .

بنځینه جمعی

د بنځینه جمعو د جوړولو قاعدې او علامې په لاندی ډول دی .

۱ـ هرمفرد مؤنث نوم چې په آخر کښی یی «و» اویا «ا» وی د «ګانې» په زیاتوالی جمع کیږی . لکه :

مفرد	جمع	مفرد	جمع
زانګو	زانګوګانې	ژړا	ژړاګانی
پیشو	پیشوګانې	رڼا	رڼاګانی
وړشو	وړشوګانې	غوا	غواګانې

څینی پښتانه د الف نومونه د «وی» په راوړلو جمع کوی لکه:
ژړاوې، رڼاوې، غواوې، اناوې.

۲- هغه مفرد مونث نومونه چې په آخر کښې یې «ه» وی په جمع کښې یې د «ه» په «ی» بدلیږی لکه:

مفرد	جمع	مفرد	جمع
ګټه	ګټې	مالګه	مالګې
خټه	خټې	پڼه	پڼې
پاڼه	پاڼې	جرګه	جرګې
خوله	خولې		

۳- هر مفرد مؤنث نوم چې په پای کښې یې څرګنده «ي» یا زړوکی والا «ی» راغلی وی که ساکښ وی په «ګانې»- جمع کیږی اوکه بې ساوی نو جمع یې په زوړکی والا «ی» راځی لکه:-

مفرد ساکښ	جمع	مفرد بې ساکښ	جمع
مامی	مامیګانې	دوستي	دوستی
انی	انیګانې	ودانې	ودانی
		دښمنی	دښمنی

٤- کوم نومونه چې په پای کښی يې او ږده (ې) راغلی وی په (انی) جمع کیږی لکه:

مفرد	جمع
ناوې	ناویانی
خوابنې	خوابنیانی

تول سماعی مؤنثات په اصل کښی «ه» لری نو ځکه یی په آخر کښی د اوږدې «ې» په راوړلو رائی لکه:

مفرد	جمع
غیږ	غیږې
لار	لارې
لمن	لمنې

۵- د نسبتی صفاتو او شریکو صفاتو ښځینه جمعی
له نارینه جمعو څخه داو بڼه «ې» پیدا کولو جوړیږی لکه:

مذکر جمع	مؤنث جمع
کابلیان	کابلیانې
کولالان	کولالانې
سادهگان	سادهگانې
خواران	خوارانې

۶- د معنوی مؤنثاتو جمعې تړیو قاعدې لاندې
نه راځی اوبه وروسته دول جوړیږی لکه:-

مفرد	جمع
مور	میندې
خور	خوېندې
تږور	تږیندې
بخلی	بخونې
وړیدار	وړیدارې

د حضرت حسن بصری (رح) له ویناوڅخه

۱- هره ویناچی د حکمت څخه خالی وی پخپله آفت وی.

۲- هره هغه چې پتیاچی دیوکار د تدبیر لپاره نه وی بی پروایی او تنبلی ده.

۳- د درې یوکسانو غندنه په غیبت کښی نه شمارل کیږی:

الف: د نفس اوهوا تابع ب: څرګند فاسق ج: ظالم امیر.

٤- زما په وړاندې ځیرک اوهوښیار هغه څوک دی چې آخرت له د نیا څخه بهتر اوغوره وګڼی.

٥- که غواړې چې خپله د نیاله مرګ څخه وروسته وویني، وګوره چې د نورو د مرګ څخه وروسته د هغوی د نیا څه شوه.

٦- هغه څوک احمق دی چې کله قوم وروسی روان شی کبر اولویی پیدا کړی.

۷- هر هغه څوک چې د خلکو خبرې تاته راوړي، پدې وپوهیږه چې ستا خبرې به هم نورو ته وړي.

۱- بنا غلی بنو ونکی دې زده کړونکو ته د حسن بصری رحمة الله علیه د پیژندنې په هکله معلومات ورکړی.

۲- زده کړونکی دې پورته نصایح په یاد وزده کړي او پخپلو کتابچو کې یې ولیکي.

تاته راشمه زړګی زما فارغ شی

ستاد عشق له وینو ډک شوځګرونه
ستا په لارې کښې بایلی زلمی سرونه

تاته راشمه زړګی زما فارغ شی
بی له تامی اندیښنې د زړه ما رونه

که هر څومره د دنیا ملکونه ډیر شی
زما به هیر نشې داستا نښکلی باغونه

د دیلی تخت هیر ومه چه را یاد کړم
زما د نښکلي پښتونخوا دغرو سرونه

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چه په نړۍ پښتانه کا ګزارونه

که تمامه دنیا یو خواته بله خوا یې
زما خو بس دي ستا خالی تش ډګرونه

احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که وینی د تمام جهان ملکونه

کتلوئې پرغلیمانو دویرې ورځې خپریږي دد وی دمت
له زوره دیرګیدړان وتښتیدل او دد وی په میړانه
داسارت دیرځنځیرونه وشلیدل.....
داغازیان خپل کور دغلیمانو له یرغل څخه ساتی، ددی
غازیانو کورهماغه دجګوغږونوځوکې اوسنګرونه دي
چې دوی شپې اورځې پکښې تیروی.
ژوندی اوبریالي دي وي داغازیان.

لغات:

۱- اتلوالی : قهرمانی
۲- برم : شان،شوکت ، قدرت
۳- نغستل : راتاوول

د زوی روزنه

نازولی زوی نه اخلی ادب
اود سوری نخل نه نیسی رطب
وینومشه هغه زوی دی په خواپوری
چې یی نه نیولی درس اونه مکتب
چه پیدا شی یوناکس په قبیله کی
وړاندی وروسته حبطه کاندی نسب
د پسر په نیکوبد ویلا ریادیږی
داخبردی په جهان کی مجرب
په سواره باندې یې گوته شی اینبوده
چې یی آس برابر نه ځی به جلب
په زهامس په خوله قهر زوی ته بوییه
څه شه وایی اچیرته دب هلته ادب
هرناکس لکه مگس باندی بنیږی
چې احمید نرم گویی کا شکرلب

تمرین

۱- زده کوونکی دې د پورتنۍ شعر، مطلب پخپله ژبه ووائئ .

۲- زده کوونکی دې دلاندې شعر په باره کې یوه مقاله ولیکي چه له لسو کرښو نه کمه نه وي .

د پسې په نیکو بد و پلار یادیږي - داخبره دی په جهان کی مجرب

۳- لاندی لغات معنی او په جملو کی یی استعمال کړی:

ادب، نسب، مهر، بویه .

یوځنګلی سړی

داسی وایی چه پخوا چیرته یو اولس ودان ؤ.
دا اولس په خپله زمانه کښی دیر نامتو ؤ. په دی اولس کښی قسم قسم کسبه کار او سیدل: چا به دهقانی کوله، چا به جولایی کوله، ځینو ندافی او ځینی هم په نورو نورو کارو اخته وو. په دی اولس کښی یو سړی داسی هم ؤ چه دده ګذاره په ښکار وه. - ددی اولس په شاوخوا کښی چیرته یو لوی بی سراو سامانه ځنګل موجود ؤ، په دی ځنګله کښی هر قسم مرغان او د ښکار حیوانات پیدا کیدل. دا ښکاری به اکثره دی ځنګله ته تلو او هلته به یی ښکار کاوه او په دغه ښکار به یی د کاله ګذران چلولو.

شپی او ورځی همدغسی تیریدلی. یوه ورځ د ښکار په وخت کښی ده ته یو ځنګلی بنیادم په مخه ورغی.

ده هغه وکړه او هغه ئې ونیو. کلي ته یې
راوست. داخبره په اولس کښې خپره شوه چه فلانی
ځنګلی بنیادم راوستی دی. چه سبا شو، نو جوپی جوپی
خلک به راتلل او د ځنګلی سیل به یې کاوه په دی شان
سره د یرک ورځې تیرې شوی. بسکاری د ځنګلی
په ساتنه او پالنه هم تنګ شو. آخر یې د ځانه سره
وویل چه دا ځنګلی نه خبری کوی او نه کار. زیاتی می
لاتاوان کوی. څه یې کوم، پرې به یې بزدم چه دروی.
نو یې پریښود.

ځنګلی بیرته خپله مخه ونیوه او ځنګل ته ننوت. نور
ځنګلیان چه دده په ورکیدو خفه وُدده په راتګ خوشحال.
ټول ورته راغونډ شول ویل یې بسه بسه چه بیا مو ولیدی
او په خیر راغلی. بیا یې پوښتنه ځنی وکړه چه وایه په دی
دومره موده کښې چه د مدنی بنیادما نو سره اوسیدی

څه دي ولیدل؟ده ورته په بیان لاس پوري کړچه په
دوی کښی می سخت کم عقل توب اولیونتوب ولید.
اوږید ونکو په خوا مینه اوشوق ورته وویل چه ښه
څنګه ؟

ده وویل : په دوی کښی خو لیونتوب نادی چه په
کورنی کښی په یوه باندې د بابا ، دادا ، لالا ـ
تره یاد مشر نوم کښیږ. دی نو بس څه غم اوکړاوچه
دی تول دده په سروي. نو اوښځی داوښ په شاسپارد
د هرڅه نه بی خبره دی ، شپی اوورځې په خبرواترو
اوخوشی تیروي اوهغه نوریی ددرنو بارولاندې
خولې خولې وی اودوی د بیکاری له لاسه تمام
عمر هوسو نه کوی یویی ګټی اوسل یی څټی .

د بد نیتی نتیجه

څو ورځې وړاندې د پلار څخه یو میوه لرونکی باغ پاتې شوچې په هغه کښې نوره کرنه هم کیده ، تر له کورنۍ دښې په حاصلاتو هوسا وه.

پلار به یې چې دښې میوې تولولې او یا به کښت ریل کیده ، بیوزلې اوارخلک به یې خبرول ، د میوو او کښتو نو څخه به یې هرچا ته برخه ورکوله. د همدې خیرات او صدقې له امله د باغ په حاصلاتو کښې لویه ګټه او برکت وُ.

چې پلار یې مړ شو ، زامنو یې دا پریکړه وکړه : دومره میوې او کښت چې فقیران له مونږ ځینې وړې کړ دا تول پخپله کورته یوسوده یره ګټه په وکړو ، سمسارو څخه باید باغ ته لاړ شو چې بیوزلې هیڅ خبر نشی ، ان شاء الله - تعالیٰ یې هم ونه ویل. هغه ووچه د شپې له مخې داسې

آفت پرې نازل شوچه ټول باغ اوکښت یې له کاره وت
اوټک تور وګرځید.

وروسته سهار وختی د حاصلا تو د ټولو لپاره وخوځیدل،
کله چې د باغ حد ته ورسیدل، باغ د اګ شوی وُ، هیڅ
یې ونه پیژانده، ګومان یې وکړچې لاره یې ورکه کړیده
اوبل لوري ته وتلی دی، بنه ځیر شول و پوهیدل چې
ځای خو همغه دی، مګر دوی تری بی برخی شوی دی.

د دوئ په منځ کښی منځنی ورور د ډیر پوه او هوښیار
وُ، د مشورې په وخت کښی یې هغوی ته ویلی وو:
«وروڼو! الله تعالی مه هیروی، ځکه چې دا ټول دهغه
احسان او انعام دی نو تاسې ئې هم له بیوزلو او مسکینانو
څخه مه سپموی.»

مګر کله چې منځنی د ده خبرو پر هغوی باندی
څه اغیزه ونکړه، دی هم چپ پاتی شو او په پته خوله

هغوی سره ملګری شو. تولو وهونوچې دښ خرابی ولیدې
نو منځنی ورور هغه خپله خبره بیا ورته یادکړه، دوی
وویل: پاکی ده زمونږ رب لره بیشکه مونږ ظالمان وو.
په پای کی تولو وویل: په ربښتیا چی مونږ کرم اوملامت
یو څکه چی مونږ د فقیرانو او غریبانو د برخې څخه لوړه
نیت وتلی وو، داځه خرابی اوتاوان چی مونږ ته
راورسیدل، د هغه ذمه وار مونږ پخپله یو، مګر اوس
هم د الله تعالی د رحمت څخه بی هیلې نه یو اود هغه
له مهربانی څخه داخبره لیرې نه ده چی د خپل فضل او
رحمت څنی مونږ ته له پخوانی باغ څخه یو بل ښه باغ
راپه برخه کړی۔ (پاره ۲۹ سورة ن والقلم کابلی تفسیر)

---

۱ - بناغلی ښوونکی دپوهنې موضوع زده کوونکوته مفصلاً تشریح کړی.

۲ - بناغلی ښوونکی دپوهنې درس زده کوونکوته داملاء په ډول ووایی.

۳ - په دغه باب د منځنی ورور دریځ بیان کړی.

توکه

یوه ورځ یو ماشوم له خوبه پاتید او په ژړا یې پیل وکړ
او ویې ویل: مور جانی! اوبه! مورې ورته وویل غلی شه
اوکه نه اوس به درپسې لرګی راوړم اوبنبه به دې ووهم.
زوی یې وویل:
مورجانې! چې لرګی راوړې زما ته اوبه هم درسره راوړه.

بناغلی ښوونکی دې هر زده کوونکی ته وظیفه ورکړې چه -
را تلونکی درس ته یوه یوه نوې ادبي توکه له ځان سره راوړي.

د اسم حالتونه

د اسم، حالتونه پر دوه ډوله دی: معنوی او لفظی.

لومړی غواړو چې د اسم معنوی حالتونه وښیو.

۱ـ د اسم مشهور حالتونه څلور دی چې په لاندی ډول ـ ښودل کیږي:

۱ـ فاعلی حالت: کوم اسم چې په جمله کښې فاعل وی یعنی یو کار له هغه څخه صادر شی یا ور پورې تړلی وی هغه حالت ته فاعلی حالت وایی.

لکه: ځلمی خط لیکی، احمد جهاد ته ځی.

په دې جملو کښې ځلمی او احمد دواړه فاعلی حالت لري.

۲ـ مفعولی حالت: کله چیرې یو اسم په جمله کښې مفعول واقع شی، هغه حالت ته مفعولی حالت وایی. لکه بریالی ډوډی خوری، ملالی سبق وایی، په دی جملو کښې ډوډی او سبق په مفعولی حالت کښې دی.

د پلار نصیحت

تا به خبر کړم خپله زویه

غوږ ږاته کیده ای نیک خویه

روسان زمونږ ه دښمنان دي

دوی په مسلک کمونستان دی

کمونستان تو له دهریان دي

له خدایځ انکار کړی ملحدان دي

کمونیستي حیوانیت دي

له یوي مخې تول وحشت دی

آزادي نشته په کمونکې

ده غلامی په دې قانون کی

اختیاري نشته دبیان تل

چې مقاصد کړي خپل عیان تل

۳ـ ندایی حالت : که چیری یو اسم ته غږ اوندا وکړی شی نو هغه اسم به ندایی حالت کښی دی لکه : ای وروره ! ای هلکه ! ای خوری ! خورکی ! تاته وایم.

په دی جملو کښی وروره ، هلک ، خور ، خورکی ندایی حالت لری.

٤ـ ارتباطی حالت : که چیری یو اسم دارتباط له حروفو سره استعمال شی ، هغه اسم ارتباطی حالت لری. لکه :- له کوره راغلم ، بازار ته ځم. په دی مثالو کښی ، کور ، بازار ارتباطی حالت لری او دارتباط توری په کښی (له ، ته) - دی. په پښتو کښی دارتباط توری دا دی :

په ، پر ، د ، تر ، بی ، نا ، له ، ته ، لره ، نه ، څخه ، - ځنی ، سره

که چیری دوه اسمونه د " د " په واسطه له یو بل سره ارتباط پیدا کړی نو هغه وخت ورته اضافی ارتباط وایی.

په اضافی ارتباط کښی لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځی لکه د ځلمی قلم داختر ورځ . او که مضاف الیه ضمیر اضافی وی نو بیا مضاف د مخه راځی لکه :

قلم می راکه ، کتاب دی څه شو؟

په پورته مثالونو کښی ځلمی او اختر مضاف الیه قلم او ورځ مضاف دی .

د اسم لفظی حالتونه

په پښتو کښی اسمونه د آخر د تغییر په لحاظ په څو ډله دی . چی په لاندی ډول ښودل کیږی :

۱ - هغه اسم چه په نرمه (ی) ختم شوی وی په ندایی حالت کښی مفتوح راځی او فتحه یی په (ه) لیکل کیږی . او په فاعلی حالت او ارتباطی حالت کښی د جمع په شکل اوړی . یعنی نرمه (ی) په څرګنده (ي) بدلیږی . او په نورو حالاتو کښی په اصلی شکل راځی ، لکه :-

ندایی حالت ، فاعلی حالت ، ارتباطی حالت . اصلی حالت.
ای ځلمیه ! ځلمی خط ولیکه - په منګې کښی اوبه نشته.
ای سړیه ! توریالی سبق ووایه ، ځلمی ته څه وایی ؟
توریالی یې بوت .

۲ - هغه صفت چې پښتې کښی یې «و» وی په ندایی حالت کښی مفتوح اوپه فاعلی او ارتباطی حالت کښی د جمع په صورت راځی لکه :
ای پښتونه ! وارې هلک وخندل - بی ننګی د پښتانه مرګ دی.

۳ - کوم اسمونه چې په صحیح حرف ختم شوی وی اوجمع یې په (ان - ون) شی په ندایی حالت کښی مفتوح اوپه نورو حالاتو کښی په اصلی صورت راځی لکه :
ای ځوانه ! ای هلکه ! ای باده ! ای کوره !

یادونه : دغه رانزد (له، تر، بې، نا) له اداتو سره.
هم مفتوح راځی لکه ! بی فکره سړی دی نا شکره دی.
ترکوره پورې ځم. له کوره راغلم.

٤ ـ سماعی مؤنث او په « ه » او څرګنده « ي » مختوم
مؤنث، په ندایی، فاعلی او ارتباطی درې واړه حالتونو
کښی په جمع بدلیږی لکه : ای میرمنې ! د ښمنی دیر
کورونه ویران کړی ـ نن د ښادي ورځ ده.

٥ ـ هغه معنوی مؤنث چه په صحیح حرف ختم وی
په ندایی حالت کښی یی په آخر کښی اوږده « ې » نړیا تیږی
د (له، بی، تر) سره مفتوح او په نورو حالاتو کښی پخپل
شکل راځی لکه : ای موری : ای خوږې : له موره بلځوک
خوږ نشته. داهلک بی موره دی. دی تر موره وږه سوه.

٦ ـ د جمع او اسم جنس اسمونه چه په څرګنده « ي »
اوږده « ې » یا په « ه » مختوم وی په ندایی، فاعلی، ارتباطی

حالاتوکښی یی د آخر «ی»، «ه» په اوږده (و) بدلیږی
لکه: ای سړو! میلمنو وډیکه وخوړه، د غورو قیمت
زیات شوی دی. د غو سړو ډیر کار وکړ.
ای ښځو! د غو ښځو کالی وو ینځل، د میلمنو کوټه
چیرې ده.

۷- جمع مذکر اواسم جنس چه په صحیح حرف ختم
وی په ندایی فاعلی اوارتباطی حالاتوکښی یی آخرته -
کوچنی واو زیاتیږی لکه: ای هلکانو!
هلکانو سبق وواید - د غمونرخ څنګه دی.
ای ځوانانو! د غو ځوانانو ډیر کار وکړ- داو ښانو
بارونه درانه دی.
یادونه: الف: تول صفات چه جمع نارۍ کله چیرې
موصوف یې جمع وی نو په دریواړو حالاتوکښی یی
آخرته واو زیاتیږی لکه: ای غمجنو! لږو کسانو کار وکړ

ای شته منو! ډیرو خلکو خبرې وکړې - په دیرو
کښې یې خوړه په لږو کښې یې ویشه.

ب - په پښتو کښې مصدر د جمع مذکر حکم
لري او په دغو دریو ډولونو حالاتو کښې یې په آخر
کښې واو زیاتیږي لکه: ډیرولیکوستړي کړم
دا دخو ډلو څښلو وخت نه دی.

علامه سید جمال الدین افغانی

د ختیځ ستر اسلام پوه، علامه سید جمال الدین افغانی
د کنړ ولایت د سادات و په یوه علمی او دیندار کوره نی کی
زیږیدلی ؤ. د پلار نوم یی سید صفدر د سید علی ترمذی
دی. په نهم پلار کی یی د نسب لړی سید علی ترمذی
او په اتلسم پلار کی یی سید جلال ته چی په کنج العلم یی
شهرت درلود رسیږی. د نومیالی سید د نسب لړی په
دیرشم پشت کی سید الشهداء حضرت امام حسین (رض)
ته رسیږی.

سید جمال الدین افغانی (رح) د کنړ ولایت د اسعد آباد په
سیمه کی د ۱۲۵٤ھ کال په شعبان کی چی د ۱۸۳۸م کال له
اکتوبر سره سمون خوری زیږیدلی ؤ.

د سید جمال الدین پلار سید صفدر د امیر دوست-
محمد خان د پاچهی په وخت کی له خپلی کورنی او خپلوانو

سره لس کاله په کابل کی تیر کړل. سید جمال الدین تر
اتلس کلنی پوری له خپلې کورنۍ سره په کابل کی وُ.
لومړنۍ زده کړه یی له خپل پلار څخه کړی وه. سید جمال الدین
ډیر ذکی او ذهین وُ، تر اتلس کلنی پوری یی ادب، نحو،
بلاغت، تاریخ، فقه، تفسیر، حدیث، تصوف، منطق،
کلام، الهیات، فلسفه، ریاضی، طبیعیات او طب
ولوستل، چه داد هماغه وخت مروجه علوم وو او نومیالی
سید په لږ عمر کی پوری بشپړ تسلط پیدا کړی وُ.

علامه سید جمال الدین افغانی په دری او عربی ژبو
د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) په څیر وینا اولیک کولای
شو په اردو ژبې هم د مورنۍ ژبې په څیر خبری کولی.
پردی سربیره یی وروسته بیا انګریزی، فرانسوی او
روسی ژبه هم زده کړه. ترکیی ته له ورتګ وروسته یی
په لږ موده کی په ترکی ژبه هم د علمی مضامینو لیکلو

توان پیدا کړ. په انګریزی او فرانسوی ژبه یې هم مضامین لیکل.

سید جمال الدین افغانی غوښتل چې پټولۍ اسلامی نړۍ کی وګرځی، چې د هغوی له حالاتو نه خبر شی له همدې امله لومړی هندوستان ته لاړ. تر یو کال وروسته په ۱۸۵۷م کال کی حج ته لاړ، هلته یې هم یوه کال تیر کړ. وروسته بیا شام، فلسطین، عراق او ایران ته ولاړ او دیوه روایت پر اساس ترکیې او بخارا ته هم تللی دی او دیره موده یې پکې تیر کړې ده.

په دغه لومړی اوږده سفر کی سید له نورو علومو نه پرته د دغو سیمو د تولنیزو او سیاسی حالاتو په هکله هم کمتر معلومات لاسته راوړل. سید جمال الدین افغانی په دغه سفر کی د مسلمانانو له حالاتو او مسایلو نه په ښه توګه ځان خبر کړ. د همدغو معلوماتو او مشاهداتو په نتیجه کی د سید، په ذهن کی د اسلامی امت د بیداری اویوالی

ستر فکر غزونه وکړه نومیالی سید د همدغې هیلی لپاره بیاد
ژوند تر پایه مبارزه او مجاهده وکړه.

سید جمال الدین افغانی له دغه اوږده پنځه کلنی سفر نه
وروسته بیرته هرات، کندهار اوله هغه ځایه جلال آباد
ته راغی. هلته د امیر دوست محمد خان په دربار کې د
مصاحب او مشاور په حیث ومنل شو. سربیره پردې
یې د شهزاده محمد اعظم خان د ښوونې او روزنې چارې
هم وروسپارلې.

سید جمال الدین افغان (رح)، له (۱۸۶۱م نه تر ۱۸۶۸م کال
پورې د افغانستان د درې امیرانو، امیر دوست محمد خان،
امیر شیر علی خان او محمد اعظم خان خاص مشاور اولوړې
وزیر وؤ. د محمد اعظم خان له وروستۍ ماتې وروسته
هغه ته د کورنیو جګړو او بې اتفاقی له املې استوګنه سخته شوله، له
همدې املې له شیر علی خان نه حج ته د تلو اجازه وغوښتله

تش په شکلونو انسانان دی
خو په عمل کې تول وحشیان دي
په ظلم وزور نیسي ملکونه
له حده تیر کوي ظلمونه
ډیر عالمان یې شهیدان کړل
مسلمانان یې زندانیان کړل
ډیر غیرتي ښایسته ځوانان هم
وو په ښایست لکه ګلان هم
د دوی له لاسه شهیدان شول
واړه بچیان یې یتیمان شول
په پاک قرآن کې داخطاب دی
هر یو ظالم ته سخت عذاب دی
ای زما زویه مسلمانه
ځان دی چمتو کړه باایمانه

اودکندهار پرلاړه هندوستان ته رهی شو.

دویم سفر:

دعلامه سید جمال الدین افغانی زمانه دلویدیځ ښکیلاک دلوړتیا اوپرمختګ زمانه وه. چی دبی شمیره ستونزو سره مخامخ شو. مطلقه شاهی حکومتونه پکی دود وواوزیاتره یی دانګلیس، فرانسی اوروسی له ظالمانه استعماری قوتونو سره مخامخ وو. له همدې املیی په اسلامی هیواد ونو کی داسلامی اخوت وحدت اوآزادی لپاره مبارزه اومجاهده پیل کړه. علامه افغانی دخپل قلمی جهاد موثریت لپاره داروپا داستعماری هیواد ونو لکه انګلستان، فرانسه روسیی اونورو مطلق العنانه حکمرانو پرضد دالعروة الوثقی نومی جریدې په خپرولو پیل وکړ. دغې جریدې په دیره لږه موده کې نړی وال شهرت پیدا کړ. دالعروة الوثقی مؤسس او سیاسی مدیر سید جمال الدین افغانی وو. لومړنی محرریی

د مصر نامتو مفتی اولیکوال شیخ محمد عبده ولمړی کښه یی
د ۱۸۸٤م کال د مارچ په ۱۳ نیټه خپره شوه. د العروة
الوثقیٰ جریدی په لږه موده کی په ټوله اسلامي نړۍ کې
نوم او لوستونکی پیدا کړل. انګریزانو سره د دغې جریدی
داهمیت او محبوبیت په هکله اندیښنه پیدا شوله، له همدی
امله یی په هره ممکنه وسیله د هغې د بندولو هڅې پیل کړې.
د همدغو هڅو په نتیجه کی نومورې جریده د ۱۸۸٤م کال
د اکتوبر په میاشت کی داتلسمي ګڼې له خپریدو نه وروسته
بنده شوه.

د علامه افغانی د ژوند وروستی ورځې په ترکیه کی
تیری شوی. د اسلامي اخوت او وحدت دغه داعی
د ترکی په نشان تاش نومی ځای کې د سختی ناروغی له امله
د ۱۸۹۷م کال د مارچ په نهمه نیټه په استنبول کې د -
شپیتو کالو په عمر وفات شو. (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ)

د مرحوم علامه افغانی مړی څلویښت کاله وروسته
د افغانستان حکومت د ترکیې په اجازه کابل ته راوړاوه
کابل پوهنتون په ساحه کې یې د پیرو پر تمینو مراسو
په ترڅ کې خاورو ته وسپارله.

علم او دانش

بی له علمه به څه غواړی په دنیا څوک
که عاقل وی که هوښیار وی که دانا څوک

تر دې ښه متاع په دی دکان کې نشته
سودا به وکاله کوي دغه سودا څوک

درست جهان قربان د علم تر گوهر شه
دغه وایم که مې وي پوښتی رښتیا څوک

تر قیامته خرابی پرې اثر نه کا
که د علم په اساس کیږدی بنا، څوک

چه د علم د طبیب دارو ونه خوړی
له مرض د جهله نه مومی شفا څوک

چه د علم رهنما په جهان نه وی
نو ربه نه وي دګرا هو رهنما څوک۔

تر بلا د جهل پورته بلا نشته

پردا هسي بلا مشه مبتلا څوک

هغه ښه دی چه د خپل ملت ښه وایی

خدای ج دې نه کاندي په بد، ویل گویا څوک

هر ملت چه وی بی علمه نابینا وي

باری مشه په جهان کي نابینا څوک

که د جهل علاج غواړی په جهان کی

بی له علمه به بیا نه مومی دوا څوک

پیش بینی دا انسان ښه ده په هر کار کښی

دا ښه نه ده چه دنن کار کړی فردا څوک

څوک وتلی له عهدی د دی بیان شی

بس ده زه څوک د ملت مدح وثنا څوک

په اسلام کې دکار ارزښت

اسلام د ژوند مکمل قانون دی او د انسانی ژوند مختلف اړخونه د اسې تنظیموی چې د ذرې په اندازه کمی پکې نه وی.

هو! کله چې انسانی ژوند د الهی برنامې له مخې تنظیم شی پرهغه بیا دګو تو ایښو دلو مجال نشته کار هم چې د انسانی ژوند یانه له اهمو اړخونو څخه شمیرل کیږی د اسلام له نظره دیر ارزښت لری.

اسلام تل خپلو پیروانو ته حکم کوی چې د حلال رزق د حاصلولو لپاره هلی ځلی وکړی اوله همدې لارې خپل ژوند تامین کړی، اسلام امر کوی چې دکارګر مزدوری دې پرته له کوم ځنډ څخه هغه ته پوره ورکړ شی.

الله تعالیٰ ج دکار په برخه کې فرمایی:

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ

یعنی کله چې د جمعې لمونځ ادا کړ شو نو پر ځمکه خپاره شی

او د حلالې روزۍ طلب او غوښتنه وکړي.

له حضرت محمد ﷺ څخه هم دکاردا زښت په باب زیات احادیث نقل شویدی. لکه چې فرمایي:

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُحْتَرِفَ : یعنی په تحقیق سره الله ﷻ هغه مؤمن خوښوی چې دیوه کسب پواسطه ځانته روزۍ کټي.

بل ځای فرمایی: مَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ عَمَلِ يَدِهِ. بخاري

یعنی هیڅکله ستاسی کوم یو د خپل لاس کمایې روزۍ نه بله بنه روزۍ نه ده خوړلې.

اسلام کارته په درنه ستر ګه ګوري او دکارګر مزدورۍ د هغه منل شوی حق ګڼي لکه چې مسلمانانو ته لازمه وونه کوي:

أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ : یعنی مخکې لدې چې د مزدورخولی وچې شي مزدورۍ یې ورکړي.

د رسول الله ﷺ یو بل حدیث دی چې ترجمه یې داسی ده:

ږی کسه دی چه د قیامت په ورځ یې زه مدعی یم : یوهغه سړی چې چاته زما په نامه سوګند خوړلو سره پناه ورکړی او بیا له هغه سره خیانت کوي . دویم هغه سړی چې یو آزاد شخص خرڅ کړی او دهغه بیه پلاس راوړي ، دریم هغه سړی چې مزدور په مزدوری ونیسی او هغه ته له پوره کار کولو وروسته د هغه مزدوری ورنکړي .

که پورتنیو نصوصو ته ځیر شوو نو راته څرګنده به شي چې کارد اسلام له نظره ډیر اهمیت لري او کارګرد خدای ج او د هغه درسول ص دوست دی او د هغه د حقوقو به برخه کې ډیر تاکید کوي .

۱ـ شاګردان دې د دې درس آیات او احادیث په یاد ونړه کړي .

۲ـ نړه کوونکی دې دکارد ارزښت په باره کې یوی لنډې مقالې ولیکی .

درسول اکرم ﷺ نصیحت

یوه سړی له رسول الله ﷺ نه (نصیحت) اوپند وغوښت.

رسول اکرم ﷺ ورته وفرمایل:

اکه درته وایم منې یې؟)

سړی وویل: هو.

رسول الله ﷺ وفرمایل: (که وئې وایم منې یې)

سړی وویل ولی نه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: «منې یې»

سړی وویل څنګه ئې نه منم.

پیغمبر اکرم ﷺ له دری ځله تینګار او پام اړونې وروسته ورته وویل: (دهرکار ارادې چې دې وکړه، لومړی ئې نتیجه وسنجوه. که دې ولیده چې نتیجه یې ښه ده، وئې کړه او که دې ولیده چې کوږوالی لري مه ئې کوه.)

تمرین

۱- حضرت رسول اکرم (ص) دا جمله (که وئی وایم - منې ئې) د کوم مقصد لپاره د ړی ځله د تکرار په ډول فرمایلی ده؟

د اسلامي سنګر عازم شه

دلوی څښتن په دین قایم شه

توپک دې واخله ژر پاڅیږه

ځنډ چې ونکړی روانیږه

پرد ښمنانو تورتم جوړ کړه

دروس په کورکې لوی غم جوړ کړه

د قدر ورځ بابا جانه!

دیر پرما ته یې مهربانه

منمه ستا نصیحتونه

دا د غیرت خوا ږه پندونه

جهاد پر مونږ باندې فرض دے

د خدای (ج) له خوا راباندې قرض دے

ژه هم مؤمن او مسلمان یم

د پاک قرآن ځنی قربان یم

داوومتولگی دپښتو فهرست

شماره	عنوان	صفحه
۱	حمد	۱
۲	نعت	۳
۳	دغازیانوکور	۵
٤	دپلارنصیحت	۷
۵	احمدشاه بابا	۱۲
٦	املایي لارښوونې	۱٤
۷	آرمان	۲۱
۸	ترانه	۲۲
۹	رحمان بابا	۲٤
۱۰	درحمان بابا دکلام نمونه	۲٦
۱۱	حکایت	۲۸
۱۲	پښتو متلونه	۲۹

شمارہ	عنوان	صفحہ
۱۳	اخلاص	۳۷
۱٤	حضرت سعد بن وقاص (رض)	۳۹
۱۵	همدردی	٤۲
۱٦	مذکر او مؤنث	٤۳
۱۷	یرغلګرته	٤۷
۱۸	توکه	٤۸
۱۹	چه ګټل خوږل بخښل کاځوان هغه	۵۰
۲۰	لیدلی چا	۵۱
۲۱	دوخت ارزښت	۵۳
۲۲	روسان یا د بشریت دښمنان	۵۵
۲۳	مفرد او جمع	۵۹
۲٤	د حسن بصری (رح) له ویناوڅخه	٦۷
۲۵	تاته راشمه زړګی نرما فارغ شی	٦۹

شماره	عنوان	صفحه
۲۶	د زوی روزنه	۷۰
۲۷	یو ځنګلی سړی	۷۲
۲۸	د بد نیتی نتیجه	۷۵
۲۹	توکه	۷۸
۳۰	د اسم حالتونه	۷۹
۳۱	سید جمال الدّین افغانی	۸۶
۳۲	علم او دانش	۹۳
۳۳	په اسلام کی د کار ارزښت	۹۵
۳۴	د رسول الله (ص) یو نصیحت	۹۸
۳۵	ربنتیا ویل	۱۰۰
۳۶	ناپوهی رنځ دی	۱۰۶
۳۷	مرسته	۱۰۷
۳۸	د علم او فضیلت	۱۱۳

شماره	عنوان	صفحه
۳۹	نه بدلیدونکی نومونه	۱۱۵
٤۰	د جهاد په باره کی لنډی	۱۱۷
٤۱	حکیمانه خبری	۱۲۲
٤۲	زما شهیده پلاره	۱۲٤
٤۳	لنډی	۱۲۸
٤٤	اجتماعی لنډی	۱۳۰
٤۵	حماسی لنډی	۱۳۱
٤٦	مسلم ته خطاب	۱۳۲
٤۷	د تنقیط علامات	۱۳٤
٤۸	لږ ویل د پرکار کول	۱۳۸
٤۹	وطن	۱٤۰
۵۰	مناجات	۱٤۲

د افغانستان اسلامی دولت

د نښو نظامونو د ترقیې ادارې

د افغانستان تعلیمی مرکز

د نصابو مدیریت

پښتو

د اووم ټولګی لپاره

مؤلف : محمّد صدیق «کامران»

مؤلف: محمد صدیق "کامران"

پښتو

د اوومې ټولګي لپاره

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے دی۔

رَضِيْتُ

خوښ یم

بِاللّٰهِ رَبًّا

چې الله مورب دی۔

وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا

او اسلام مو دین دی۔

وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَرَسُوْلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی۔

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الْاِنْسَانَ وَجَعَلَهٗ اَکْرَمَ الْخَلَائِقِ بِالْعِلْمِ وَالْکَرَمِ وَجَعَلَ اُمَّةَ مُحَمَّدٍ خَیْرَ الْاُمَمِ وَاَمَرَهُمْ بِالدَّعْوَةِ وَالْاِرْشَادِ وَالْجِهَادِ الْمُعَظَّمِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْاَنْبِیَاءِ وَمُعَلِّمِ الْبَشَرِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

په هیواد کی د سپیڅلی جهاد د پیل څخه را پدیخوا، استادانو، علماو او پوهانو، د شاگردانو د علمی اهدافو د تر سره کیدو او د اسلامی فرهنگ د ودی او پراختیا د پاره په مختلفو برخو کی او د پوهی له بنیګڼو څخه د بنی ګټی اخیستنی په خاطر کاکه پاملرنه کړیده، او په دی توګه ئی د مهاجرت د ناخوالو او بدو شرایطو سره سره دا خبره نړیوالو ته ثابته کړه چه د افغانستان غیور او قهرمان ملت وکولای شول د جهاد په تیرویو و لسو کلو کی د توری او قلم مبارزی ته یو دبل ترڅنګه ادامه ورکړی. د افغانستان تعلیمی مرکز چه د مختلفو د رنو جهادی تنظیمونو له پیاوړو غړو څخه تشکیل شوی دی په خپل وار سره هڅه کړی ترڅو په هیواد کی د ننه د مدارسو د رسی پروګرامونه له ورځنیو شرایطو او علمی معیارونو سره سم ترتیب او د لمړی دورې د رسی کتابونه او د هغو محتویات د منل شوی تعلیمی اصولو پر اساس تهیه او تطبیق کړی. اوس چه د لوی خدای ﷻ په فضل

د لمړی دوری د کتابونو چاپ او ترتیبول پای ته رسید لی او
د خدای پاک په مرسته منځنی او دوهمه مرحله شروع شویده
بیایی هم خپله علمی دنده دیوه غوره تعلیمی پروګرام په برابر-
ولوکی چه د ټولو تعلیمی بنسټونو او علمی موازینو سره برابروی
نده هیزه کړی ۰ او دپخوا په شانئی د درسی کتابونو په برابرولو
او تدوین کی د نورو مختلفو جهادی تنظیمونو د پروګرامونو
څخه په استفادی سره زیاته پاملرنه کړیده ۰
د افغانستان تعلیمی مرکز خپله دنده بولی چه د نصاب مدیریت
له هغو استادانو، پوهانو او کارکونکو څخه چه دیوه اسلامی
واحد تعلیمی نصاب د منځ ته راوړلو په برخه کی چه له علمی
موازینو سره سمون لری له هیڅ ډول ایثار او سرښندنی څخه
ډډه نده کړی مننه او درناوی وکړی ، او د دوی لا زیات
بریالیتوبونه د علم او معارف په برخه کی له پاک خدایج څخه
وغواړی ۰
هیله لرو دهیواد راتلونکی او ځوان نسل د قدرورو مدرسینو
دعلمی لاروښوونی په نتیجه کی تری زیاته ګټه واخلی، ترڅو دیوه
نوی افغانستان د پاره چه یو اسلامی ، خپلواک او پرمخ تللی
افغانستان به وی ربښتینی او ګټور غړی وروزل شی ۰

ومن الله التوفیق

د افغانستان تعلیمی مرکز